

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : اشرف غني وتښتېد؟ وتښتول شو؟ او که تښتېدو ته اړ کړای شو؟

لیکوال: عطاءالله ناصري

خپرندوی: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار :لومړی

چاپ کال: ۱۴۰۰ لمریز

قیمت: ۱۰۰ افغانی

**نوی مستقبل خپرندویه ټولنه**

لومړی ادرس: کوټه سنګي-دسیلو د څلورم اوپنځم سړک ترمنځ د شاداب ظفر بلاکونوته مخامخ

دویم ادرس : د دهمزنګ لومړی سړک (مرکز عمومي کتابفروشي). ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰

درېیم ادرس: جوي شیر دخپرندویه ټولنو او کتاب پلورنځینو عمومي مرکز

۰۷۸۱۸۹۴۰۶۴

اړیکې : ۰۷۸۷۱۸۰۷۵۳/۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵/۰۷۸۶۶۳۰۷۳۱

د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

ketabton.com - The Digital Library

مخکې له هغې چې په اصلي موضوع وغږېږو لږ به بېرته په شا وګرځو د هغو پېښو شالید به راوسپړو چې:

د هغو د پېښېدو لاملونه څه وه؟

ولې داسې پېښې مینځ ته راغلې؟

د هغو پېښو د پېښېدو اړتیا څه وه؟

آیا دا پېښې خپله د حالاتو له کبله مینځ ته راغلې ؟

د دې پېښو ترشا د چا لاس وه؟

د پېښو عاملین خپله را پیدا شوه که را پیدا کړی شوه ؟

ولې ځینو خلکو ته مصنوعي شهرت ورکړل شو؟

موږ به زیار وباسو چې په خپله لیکنه کې هغو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړو. ترڅو د اوسنې پېښې د حل لاره راپیدا کړو.

کله چې په ۱۳۵۸ کال د مرغومي (جدي) په (٦) نېټه تر دوه سوه زرو زیات روسي لښکرې د آمو له سیند نه د وخت په ډېرو پرمختللو وسلو سنبال را پوري وتلې او په لږ وخت کې یې ټول افغانستان تر خپلې ولکې لاندې راوسته. نړۍ له ویرې نه داسې ټکان وخوړه چې آن په دغه موضوع یې سوڼ قدرې هم نه کاوه.

په افغانستان کې د ببرک کارمل تر مشرۍ لاندې یو حکومت اعلان شو. د حفیظ ...امین د ارګ واکمني یې ور ختمه کړه. په ښکاره سره نور افغانستان د شوري اتحاد د یوې مستعمرې په توګه د نړۍ خلکو ته په سترګو شو. ځکه په هغه وخت کې دا یوه خبره ډېره مشهوره وه چې کله روسان کوم ملک ته ننوځي بیا له هغې نه یې بېرته راوېستل یې ناشونی

ketabton.com - The Digital Library



دی.

ټوله نړۍ له وېرې په خپلو غارونو کې ننوتې وه. ځکه هر ملک سره خپل غم وه. روسي سور استعماري هېواد په هغه وخت کې په زياته اندازه پوځ او ډېرې پر مختللې وسلې درلودې.

د دې ترڅنګ يې چې کله غوښتل يو هېواد تر خپلې ولکې لاندې راولي نو هلته به يې د خپلو سفارتونو په مرسته ګوډاګي ګوندونه را پيدا کړه او د ټولنې هغه وګړي به يې په کې راټول کړه چې هغوی ته خپلو ارزښتونو هېڅ اهميت نه درلوده.

هغوی ته به يې داسې په ګوته کوله چې دغه اوسنی نظام د تاسو مظلومو خلکو ټول حقوقو خوري. تاسې پر مختګ ته نه پرېږدي. تاسې تل په تيارو کې ساتي او خپله يې مزې کوي.

تر څنګ به يې له حکومتونو سره هم څه ناڅه مرستې کولې. خپل کسان به يې وختي د وخت د حاکم حکومت تر څنګ ځای په ځای کړي وه.

له مختلفو لارو به يې د وخت حاکمان عياشۍ ته هڅول. هغوی ته به د دې لپاره زمينه برابرېده. ترڅو حاکمان په عياشۍ اخته شي او له ارګ بهر يې روزل شوي ځوانان د دوی په خوښه فعاليتونه پر مخ بوځي.

چې بيا د مستقيم يرغل په وخت د دوی لپاره زمينه جوړه شوي وي. دوی خپل يرغل ته د همدغو ګوډاګيانو په مرسته رسميت ور وبښي.

د همدې فورمل پر بنسټ چې کله روسانو په افغانستان مستقيم يرغل وکړ نو کارمل يې را را د مخه کړ. دنيا ته داسې وښوده چې موږه د وخت د حکومت په غوښتنه د افغانستان د دښمنانو د له منځه وړلو لپاره راغلي يو.

ketabton.com - The Digital Library



کله چې روسانو عملا افغانستان ونیوه. نور د دې هیواد په شتون د دنیا په نقشه کې نړیوال شکمن شوه.

په دغه وخت کې په پاکستان کې د ضیاء الحق په مشرۍ نظامي حکومت وه. (مارشالایي حکومت) د روسانو د راتګ نه تر مخه چې په افغانستان کې د داوود خان استبدادي حکومت وه. ده له خپل ولس سره داسې چلند کاوه چې نه ومري او نه ژوندي وي.

د ظاهرشاه د حکومت پر مهال چې کومې ډلې ټپلې جوړې شوې وې هغوی ته د هیواد پالنې نظرېې پرته د بل پالنې نظریه په دې توګه ورکړل شوې وه چې دا ډلو هغه د خلق ډله وه یا د پرچم چې په مقابل کې یې اخواني ډلې ولاړې وې. یو د بل په دښمنې کې وې.

ځکه د دوی جوړښت د دوی د اهدافو لپاره وې. چې د دې ډلو په جوړېدو که له یوې روسانو کار کاوه. له بله پلوه امریکایان هم لګیا وه.

روسانو د کمونیستي نظر یې پر بنسټ ځانته کسان روزل او امریکایانو د امپریالستي نظریې ځوانان روزل. چې بیا به همدغه ډلې د یو بل په مقابل کې ولاړې وې. دوی مخکې له هغې چې د هیواد په منافعو فکر وکړې د خپلو بادارانو په اشارو ګډېدل.

له همدې کبله په دغه وروسته پاتې کړای شوي هېوادو کې ډلې د دښمنۍ لپاره روزل کېدې نه د هېواد د پرمختګ لپاره.

په افغانستان چې له یوې خوا غیرې اسلامي ګوندونه د د هقان او مزدور په نوم سره راټولول کېدل چې دوی به په ټولنه کې د غېرې اسلامي عقایدو په خپرېدو کې کار کاوه چې په بله خوا به بیا نورې ډلې د اسلام په نوم سره

ketabton.com - The Digital Library



را ټولولېدې دوی ته به يې د کمونستانو په ضد نظريې ورکول کېدې. چې همدا خبره به په يوه ټولنه کې د دښمنۍ لامل کېده.

تر کومه ځايه چې مالومېږي او د وخت په تېرېدو سره څرگنده شوې له روسانو نه په دې کار کې امريکايان ډېر تکړه وه. ځکه امريکايانو به ځوانان د ټولنې د نظريې سره روزل چې په ټولنه کې به اتبار درلوده.

روسانو به خپلې ډلې ټپلې د ټولنې د عقايدو په خلاف روزلې. او د هغوی په ذهن کې به يې داسې خبره پېچکاري کوله چې دين او مذهب د ټولنو د وروسته پاتې لاملونه دي. نو ځکه بايد دين او مذهب له ټولنو نه له مينځه لاړ شي.

د دې خبرې څو لاملونه کېدای شي.

روسانو چې خپلې ډلې د دين په ضد نظر يې روزل په دې ښه پوهېدل چې دوی په ټولنه کې ځای نه لري. کله دوی په واک ورسول شي نو د ټولنې وگړي يې په ضد را پورته کېږي کله دا ټولنه په خپلو کې په جگړو شې بيا موږه په ښه ډاډه زړه کولی شو خپلې موخې پر مخ بوځو. ځکه کله چې ټولنه په خپلو کې سره په جگړه شوه بيا هغوی د بل موخو ته نه متوجې کېږي. ځکه هغوی بيا د خپل په غم وي.

يوه ډله حاکمه وي او بله ډله له بهره د حکومت په ضد. چې دغو دواړو ډلو ته وسلې د خپلو بادارانو لخوا برابرېږي.

په دغو کارونو کې لوی لاس د يهوديانو دي. او دا نړۍ د يهوديانو په شيطانت سره په خپلو کې جنگېږي. ځکه يهوديان د روس او امريکا په پارلمانونو کې په ډېر شمېر شته او يهوديان يوازنی قوم دی چې په دنيا کې

ketabton.com - The Digital Library



یوه موخه پر مخ بیایي. هغوی که په روس کې دي که په امریکا کې. د دوی دا یوه موخه ده د اسرائیلو لوی دولت!

چې دوی کلونه کلونه د دې خپلې موخې لپاره هلې ځلې کړې دي.

همدارنګه د انګریزانو حکومت هم په بشپړه توګه له یهودیانو سره همکاره دی. چې تل یې د یهودیانو پلوی کړې. او کوي یې.

نو په دغو پېښو چې په دنیا کې پېښېږي یهودیان لوی لاس لري. هغوی زیارباسې خپل ټولې موخې د نړي د دې لویو قوتونو تر سیورې لاندې پر مخ بوځي چې په دا کار کې هغوی ډېر بریالي هم دي.

نن سبا وینو چې د نړی په ډېرو هېوادو کې همدا فورموله تطبیق کېږي. په ځانګړي توګه په اسلامي هېوادونو کې. استعماري ځواکونو تل زیار باسي داسې کارونو په ښه توګه پر مخ بوځي.

د دې لپاره افغانستان ډېره ښه بېلګه ده. په افغانستان باندې د روسانو د یرغل لوی لامل همدغه یهودیان وه. چې د امریکا په لاس څرخي. یهودیانو په ډېر مهارت سره برژنف دې ته اړ کړ چې په افغانستان یرغل وکړي.

په دې کار کې د امریکائیانو لویه موخه دا وه چې روسان په یو رنګه په یوه جګړه کې راګیر کړي ترڅو له یوې خوا له روسانو نه په ویتنام کې د خپلې ماتې غچ واخلي.

له بله پلوه د خپلو وسلو د خرڅلاو لپاره ښه بازار پیدا کړي او ورسره په امریکا کې د وسلو جوړلو د شخصي کمپنیو لپاره دا ښه بازار کېدای شي. ترڅنګ یې د نوو جوړو شوو وسلو د استعمال لپاره مناسب ځای دی. روسانو په افغانستان باندې یرغل وکړ. دا سې حال وه چې نړی دا فکر کاوه چې نور

ketabton.com - The Digital Library



دا هیواد د هېرې تاریخ ته باید وسپارل شي.

مگر په افغانستان کې مخکې له مخکې څخه د دې لپاره تدبیر نیولی شوی وه. هغه گوندونه چې په اسلامي نظریې روزل شوي وه. په دغه وخت کې د امریکا لپاره ښه مفت پوځ شو.

امریکا یوازې خپلې پیسې او وسلې رالېږلې. مگر د هغو په کارول سره هېڅ یوه امریکایي مور نه ژړېده. مگر دلته وزگاره افغانان وه.

د دې ترځنگ په هغه وخت کې د داوود د مستبد او ناپوی حاکم د ظلم له لاسه دغه اسلامي گوندونه په دننه هېواد کې نه شو پاتې کېدی . د یوه منظم پروگرام له مخې په کور د ننه ژوندکول ورته گران شوه دې ته اړ شوه چې د خپل د ژوند د بقا لپاره گاونډې ملک پاکستان ته پناه وړوي.

د دې خلکو ورتگ پاکستان ته یو طلایي چانس وه. ځکه پاکستان له ډېره وخته په دې فکر وه چې د افغانستان لپاره د وراني کومه لاره برابره کړي.

زموږ دې گوندونو ته داسې یو نظر ورکړی شوی وه چې له خاورې او هېواده اسلام ډېر ارزښت لري. د دوه هېوادونو ترمینځ سرحد هېڅ مانا نه لري. یانې په دې مانا چې د دوه گاونډېونو ترمینځ د بېلتون کرښه هېڅ ده.

پاکستان هم د اسلامي ورورولۍ پر بنا دغو بې تجربو سیاستمدارانو ته سیاسي پناه ورکړه ترڅو د اسلام په نوم له هغوی نه دوه کاره واخلي.

یو دا چې د امریکا هغه مرستې تر لاسه کړي چې د جهاد په نوم افغانانو ته راځي.

دویمه دا چې د افغانانو په واسطه د روس مخه په افغانستان کې ډپ

ketabton.com - The Digital Library


کړي. ځکه پاکستاني واکمن په دې خبره ښه پوهېدل چې په نړۍ کې يوازې افغانان کولی شي د روسانو مخه ونيسي. که يو ځل د روس ټانګ له لوارګي نه واوښته بيايې هېڅوک هم مخه نه شي نيولی.

په هغه وخت کې په پاکستان کې مارشالايي نظام د ضيا الحق په مشرۍ وه او د دې ملک کل اختياره هم وه. نو د حالاتو سره سم يې ګام پورته کاوه. دا کار يې د ځان لپاره يو ښه خير وبوله.

نو د امريکې او انګلستان په اشاره يې خپل د روغجن سرحدونه د افغانانو په نوم پرانيستل.

بيا زموږه افغانان نام خدا په افراط کې د نړۍ په قومونو کې يو ځانګړی خوی لري.

پاکستان دا کار د اسلامي وروروليی په بنا په ښکاره سره وکړ. د افغانانو يې ډېر قدر وکړ.

په دې وخت کې د اسلامي او کفري نړۍ نه د مرستو بهير رامات شو. چې دغه مرستې ټولې د پاکستان مارشالايي حکومت لخوا په مهاجرو وېشل کېدې.

دا د پاکستان لپاره د خپل د اقتصاد د لوړتيا په خاطر يو ښه چانس وه. خو زموږه سياسي مشرانو هومره سياسي پوهه نه درلوده چې له داسې يوه حالت ځانونه روغ وباسي او خپل هېواد د يوه خپلواک وطن په توګه د نړۍ په نقشه کې وځلوي.

که له يوې خوا روسانو مستقيم يرغل کړی وه له بله پلوه امريکا هم زموږه داسې دوست هېواد نه وه چې د خدای د رضاء لپاره خپلې مرستې راولېږي.

ketabton.com - The Digital Library



ورسره پاکستان هغه پټ دښمن او د لستوڼي مار وه چې یوازې د افغانستان ناتوانه کېدل یې غوښتل تر څو په هره برخه کې ورته اړ وي . د دې مصنوعي هېواد یوازینی هېله دا ده چې تر څنګ یې یو بېکاره هېواد وي او ده ته تل اړ وي ترڅو د دېورند تحمیل شوې او ناپېژاندل شوې کرښه افغانان په رسمیت وپېژني.

نو د دغو اهدافو په خاطر روسانو یرغل وکړ او امریکایانو خپلې مرستې جارې وساتلې.

پاکستان خپلې دښتې ورته په واک کې ورکړې.

زموږ په افغانانو کې سیاسي پوهه او د وطن دوستۍ احساس ډېر کمزوری وه. په هر عصر کې یوازې د وسلې چلولو او جګړې ته ښه تکړه دي. خو کله چې د سیاست په ډګر کې راګډ شي بیا هرڅه بای کړي.

زموږ د ګوندونو تر مینځ د دښمنۍ لوی لامل یوازې زموږ د مشرانو سیاسي ناپوهی وه او زموږ د ولس دیني او ټولنیزه کمزوره فکرونه وه.

روسانو ماته وخوړه د هغه د وخت د نجیب په مشرۍ کمونیستي نظام د یوې نړیوالي جوړې شوې نقشي سره سم له مینځه لاړه هغه ګوندونه په واک ورسېدل چې یا پخپله د کمونېزم د مستقیم قومندې لاندې وه او یا په جهادي ګوندونو کې د روس پلوه نظریې خاوندان وه.

د نظام د ماتې په وخت نجیب غوښتل له افغانستان څخه ځان وباسي مګر ده د خپل د حکومت په دور کې داسې ګمارنې کړې وې چې همغه خلک د ده د ځان غم شوه. همدغه کړی وي چې د تنې سره یې سرخوزاوه چې ته مخکې شه د نجیب په ضد کودتا پیل کړه موږه ټول د تا تر شا ولاړ

ketabton.com - The Digital Library



یو.

دا هغه په مسکو کې جوړې شوې برنامې وې چې له مخکې نه یې د تطبیق لپاره نقشې جوړې او د ځانګړو کړیو په لاس ورکړل شوې.

خپله تڼی د دومره سیاسي پوهې خاوند نه وه چې د حالاتو په هکله ازونه وکړی شي. هغه یوازې د برېتونو جنرال وه. ده هرڅو په نظامي برخه کې تجربه درلوده. خو د سیاست او سیاسي لوبو څخه بې خبره وه. ده نه شو کولی دوست او دښمن وپېژني. تر څنګ یې نجیب هم د یوې محدوده سیاسي چاپېر چل کې روزل شوی وه. د ده کمونیستي نظریې ده ته دا اجازه نه ورکوله چې په خپلو پرچمي ملګرو باندې بد ګمان شي.

دی په خوشباورۍ کې او تڼی په ناپوهۍ کې د یوه هوښیار دښمن د چلونو په دام کې ونښتل.

مخکې له هغې چې دوی په واقعیت پوی شي په دام کې ولوېدل.

دا یو واقعیت دی که چېرې تڼی په نظام کې وي دغو ګړیو هېڅ وخت نه شو کولی د نجیب حکومت ته ماتې ورکړي.

تڼی کودتا پیل کړه په دې تمه چې شوې وعدې به ورسره تر سره شي او په لږ وخت کې به نظام له نجیب څخه ونیسو. مګر همغو کړیو له مخکې نه نجیب په دې خبره خبر کړی وه.

له یوې خوانه نجیب او له بله پلوه دغه وعده ورکړې کړیو د تڼي به ضد په ګډو عملیاتو سره دا کود تا ناکامه کړه.چې هېواد په د ې ورستیو پېښو کې د تڼي د کودتا اغېزې په ښکاره سره په سترګو کېږې. د دې کوټتا په سرته رسېدو کې روسانو دوه موخې درلوده.

ketabton.com - The Digital Library



لومړی دا چې له نظام نه به د هغو خلکو جرړې وباسي کوم چې په راتلونکې کې د روسانو لخوا د طرحه شوو پلانونو مخه نیوی شي.

دویم دا چې په نظام کې به د باتجربه او مسلکي کدرونه کمښت مینځ ته راشي. په عسکري نظام کې په واقعي توګه رښتینې مسلکي او کدري کسان تر نور هر چا په پښتنو کې زیات وه. چې په دې کودتا سره یوځه د تنې په ملګرتیا له مینځه تله او یو ځه د نجیب سره چې د دوی طاقت ډېر کمزوری کېده.

د کودتا په وخت هغه ډلو ټپلو چې له تنې سره د ملګرتیا ژمنه کړې وه اول هغوی خپله د کودتا په مخنیوي کې لاس درلوده.

په دې توګه د روسان د راتلونکو پلانونو د تطبیق لپاره زمینه برابره شوه.

کله چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان په پېښې باندې د نړۍ د لویو طاقتونو پرېکړه وشوه او د ملګرو ملتونو ځانګړی نماینده بنین سیوان وټاکل شو تر څو دغه جوړه شوې نقشه د پېښو د مختلفو ډلو تر مینځ حل او فصل کړي.

بنین سېوان په افغانستان کې ډېرو ډلو ټپلو سره وکتلې. کله چې پنجشېر ته احمد شاه مسعود ته ورغی هغه یې د ملګرو ملتونو په پرېکړه لیک وپوهاوه چې ده ته په راتلونکي حکومت کې لس سلنه برخه ورکړی شوې وه.

مګر احمد شاه په دې نه قانع کېده ده تر دې زیات حق غوښتنه.

له دې سره د جګړې د تاوان لس ملیارده داله په روس اینښودی شوی وه چې دا به د ملګرو ملتونو له لارې افغانستان ته ورکوي. دغه پېسې په هغه وخت کې د روسانو اقتصاد ته ډېر لوی تاوان وه. ځکه روسان نوی د

افغانستا ن له ورانوونکي جګړې نه بېغمه شوی وه چې له دې سره اقتصاد له صفر سره برابروه.

لپاره د دې چې روسان له دغې ملاماتوونکې تاوان څخه ځان وژغوري نو د خپل پلوي ډلو ټپلو ته يې قومنده ورکړه چې دا پرېکړه تاسې مه منئ.

دا هغه ډلې وي چې د نجيب په شتون کې يې په حکومت په بشپړه واک درلوده.

د نجيب يوازې څېره پاتې وه او بس. نجيب چې کله په حکومت کې وه هېڅوک يې په ياد نه وه. د پښتنو ډېر لوی مشران او د کار سړي د همده د رياست جمهوري او د خاد د رياست په وخت له مينځه تللي.

نو دغو ډلو ټپلو په ډېره آسانۍ سره د دغې پرېکړې د تطبيق مخه ونيوه. او خپله وفاداري يې روسانو ته ثابته کړه.

په دې کار سره امريکا غوښتل په افغانستان کې يوه داسې خلا را مينځ ته کړي چې افغانان دې په مختلفو نومو په خپلو کې سره په جګړه وي. تر څو نړۍ ته وښيي چې مجاهدين د حکومت خلک ندي بلکې دوی يوازې د جګړې خلک دي.

په دغه وخت کې امريکه لاس په کار شوه د خپل د استعماري پلانونو د تطبيق لپاره يې هغو ګروپونو ته قومنده ورکړه چې د دوی پلوی وه او د همدې ورځې لپاره يې جوړې کړې وې .

چې لاس په کار شي همغه وه چې د کمونيستي عقيدو ملېشه او امريکا طلبه مجاهدينو سره لاسونه يو کړه د بنين سيوان د پلانونو مخه يې ونيوه.

چې په همدغه اړو دوړ کې نجيب د يوه نړيوال او سيمه ايز سازش په

ketabton.com - The Digital Library



پایله کې د طالب په لاس په دار وځړول شو په افغانستان کې حکومت د مجاهد نما کمونیست پلوه او د کمونیستي ملیشو د یوه ګډ اتحاد لاس ته چې په جبل السراج کې د هغه وخت د روسي سفیر په مینځګړیتوب مینځ ته راغلی وه پرېوت.

نور په افغانستان کې د روس سره جګړې عملا پای وموند او د خپلو افغانانو ترمینځ د واک په سر جګړه پیل شوه چې دا جګړه د افغانانو د سترو بد بختیو پیلامه وه. د افغانانو تر مینځ په دې جګړه کې نړیوال طاقتونه او د سیمې هېوادونو هریوه ځانته ځانګړې موخې درلودې.

روسانو خپل پلوي ډلې په واک رسولې وې ځان یې له تاوان څخه پرې وژغوره د خیر په غونډۍ ناست وه خپل سیل یې کاوه.

پاکستان غوښتل په دغه جګړه کې د افغانانو هغه نظامي قوت او وسلې چې د نجیب له حکومت نه ورته پاتې وې په کورنیو جګړو کې له مینځه ویسي. او هغه ځلور سوه کلنه اردو ونړوي. چې په دې سره بریالی هم شو.

امریکا زیار ایسته هغه وسلې یې چې د جهاد په وخت مجاهدینو ته ورکړې وې. په هره توګه چې کېږي باید له مینځه لاړه شي. د دې ترڅنګ یې زیار ایسته چې د ځان پلوه داسې نوې ډلې راپیدا کړي چې کله ولس د تش په نوم مجاهدینو د جګړو له لاسه په تنګ شو هغه را دمخه کړې تر څو دغه مجاهدین هم پرې له مینځه ویسي.

له دغو کارونو څخه د امریکې موخه دا وه چې په راتلونکو کې د خپل د یرغل لپاره لاره برابره کړي. ځکه امریکا د یهودیان په مشورو سره دا ارمان درلوده چې څنګه او په کومه لاره روسانو ته ماتې ورکړي چې د ویتنام د

ketabton.com - The Digital Library



ماتې غچ ترې واخلي.

د تش په نوم مجاهدینو جګړه ورځ تر ورځې اوږدېده او خطرناکه کېده. ټول ولس پرته له هغو نه چې شخصي ګټې یې په کې وې؛ له دې کور ورانونکې جګړې نه په تنګ وه.

دلته د واک په ګدۍ هغه خلک ناست وه چې هغوی ته له خپلو ګټو نه پرته نور هېڅ هم اهمیت نه درلوده.

ورو رو د دې قومندان سالارۍ نه په ولس کې کرکه او نفرت په زیاتېدو وه. له یوې خوانه د کار نه شتون له بله پلوه جګړه بې نظمي،غلا، شوکې، ډاکې، رشوت، بې ځآیه وژل، د خلکو ناموسونو ته په سپکه کتل، د ښایسته هلکانو ساتل، دا ټول هغه لاملونه وه چې ټول ولس ورڅخه په تنګ وه.

البته دا باید له ویلو پاتې نه شي چې دا ټول هغه کارونه وه چې د بهرنیو هېوادونو د لاس وهنې په پایله کې سرته رسېده.

بهرني هېوادونو چې په راس کې امریکا وه د دې خبرو په مینځ ته راوستو کې لوی لاس درلوده. تر څو په کرا کرا سره د دوی راتلو او مستقیم یرغل ته مناسب وخت په لاس ورشي ځکه د امریکایانو دا ډېر لوی ارمان وه چې یو ځل دې سیمې ته راشي .د منځني آسیا له نفت ګاز او طلا څخه ګټه وخلي. له بله خوا نه خپل زوړ رقیب روسیه له دې ځایه وځاري. او تر کنټرول لاندې یې ونیسي.

د تش په نوم مجاهدینو ونه شوه کړای له دې ستونزي ځان وباسي. ورځ تر ورځې په فساد کې غرق کېدل. اوس نو ولس یوه تغیر ته اړتیا درلوده. هسې تغیر چې خلک له دغه حالت نه وژغوري.

ketabton.com - The Digital Library



په ځينو سيمو خو داسې حالت مينځ ته راغی چې قومندانانو په ښايسته هلکان ځانونو ته نکاح کول. ترڅو په کندهار کې خلکو له علماؤ نه داسې غوښتنه وکړه چې له دغه حالت نه يې وژغوري.

د لومړي ځل لپاره په کندهار کې عالمان د ملا عمر په مشرۍ را پورته شوه د هغو قومندانانو په ضد يې وسله راپورته کړه چې دا کارونه يې په ښکاره سره کول. د ګوندونو هغه قومندانانو چې يو وخت يې د جهاد جنډه پورته کړې وه او د اسلامي حکومت د جوړلو لپاره يې سينه دربوله نن همغه قومندانان د فساد اصلي لامل وګرځېدل.

ملا عمر د خپلې مدرسې طالبان له ځان سره کړه اول يې د کندهار په ښآر کې هغه قومندان چې په ښکاره سره يې هلک ځانته نکاح کړی وه په دار وځړاوه. له هغه وروسته دا خلک ورو رو پياوړي کېدل. د سيمې خلک هم ورسره ملګري کېدل.

د وخت په تېرېدو سره دوی د خپل د تحريک نوم د طالبانو په نوم کېښوده.

دوی په لږ وخت کې ډېرې سيمې ونيوې. دا غږ په نړيواله سطح خپور شو. دنيا خبره شوه.

په پيل کې طالبانو يوازې د کندهار په اصلاح بسنه کوله. مګر کله چې د ګاونډيو هېوادونو دې خبرې ته پام شو چې دا ډله د دين او مذهب په نوم کولی شي په ولس کې ځای پيدا کړي بيا په ځانګړي ډول امريکا نو لاس په کار شول.

هغوی له دې ډلې سره د هر راز همکاريو ژمنه وکړه. امريکايان پوه شوه

ketabton.com - The Digital Library



چې د دې ډلې په مرسته موږه خپلو موخو ته رسېدی شو. د دې موخې ته د رسېدو لپاره یې بیا پاکستان ته لاس وغزاوه.

پاکستان د یهودو په مشوره هغه مصنوعي هیواد دی چې د انگلستان، امریکا، فرانسي او روس په خوښه او مرستو مینځ ته راغلی تر څو وشي کولی د همدې تش په نوم اسلامي هېواد په مرسته په سیمه کې د اصلي اسلامي تحریکونو مخه ونیسي.

پاکستان د نړۍ لویو طاقتونو ته په اسیا کې د اسرائیلو حیثیت لري او د همدې موخې لپاره مینځ ته راغلی.

د امریکا نمایندگان پاکستان ته راغله دلته یې له هغو پوځي افسرانو سره وکتلې چې هغوی دافغانستان په جهاد کې ډېره تجربه درلوده. او د گونډونو سره یې پېژانده.

د پاکستان لخوا چې په هغه وخت کې بېنظیر بوټو په واک وه د دې کار لپاره یې نصیرالله بابر ښه مناسب شخصیت وگاڼه.

په دغه وخت کې د انگلستان نماینده هم پاکستان ته راغی او د پاکستان جنرالانو سره یې په دې هکله خبري وکړې او د مرستې ډاډ یې ورکړ.

د نړۍ د لویو طاقتونو لخوا پاکستان ته سینه ودربېده. پاکستان چې د همدې ورځې په تمه وه نصیر الله بابر یې د طالبانو مشرانو ته راولېږل ترڅو د وی په خپله راشي اوله هغه نمایندگانو سره وغږېږي.

دا چې په پیل کې د طالبانو د تحریک موخه یوازې د کندهار د قومندانانو غوږونه تاوول وه. نو دوی د دومره لوی حرکت په تمه هم نه وه.

ketabton.com - The Digital Library


مگر هغه وخت چې د جمعیت اسلامي لخوا دوی سره د مرستو ژمنه و شوه دوی نور هم تاوده شوه.

پاکستان چې د همداسې موقع په تمه وه لاس په کار شو. له طالبانو سره یې له مختلفو لا رو اړیکې ونیوې د دوی نمایندگان یې له ځان سره پېښور ته بوتله. دا یو ښه چانس وه چې د پاکستان حکومت ته په لاس ورغی.

که موږه لږ تېر تاریخ ته ځیر شو لکه څنگه چې زموږ د هیواد د تباهی اصلي مجرمین همدغه د گوندونو مشران دي. ورسره په نړۍ کې د اسلامي واک له لاسه د ورکولو اصلي مجرمین هم همدغه گوندي مشران دي.

دوی د نړۍ له مسلمانانو سره دا لاپې شاپې ووهلې چې موږه به په نړۍ کې د اسلامي نظام د قیام لپاره کار کوو. مگر دوی یوازې خپل هیواد هم جوړ نه شو کړی.

همدارنگه د نجیب د حکومت د له مینځه تلو په وخت پرته له دې چې په هېواد کې یې د خپل مینځي د جگړو بنسټ کېښوده همدارنگه یې د نورو سترو خیانتونو لپاره لارې هوارې کړې چې له جملې څخه د طالبانو پیدا کېدل او بیا په جنگي محاذونو کې د هغوی پرمختگونه.

هغه وخت چې د نجیب حکومت ماتې وخوړه دا د څوکۍ مینانو د واک لپاره د کابل په خوا وخوځېدل. په کابل کې دوی په خپلو کې سره ښکرې اړم کړې. د لسهاو زره انسانانو وینې یې توی کړې کابل یې په کنډواله بدل کړ. خو دوی ونه پوهېدل چې څه کوي او د چا لپاره یې کوي.

په دغه وخت کې چې د نجیب حکومت ماتې خوره د ډېرو غربي هېوادونو نمایندگان پېښور ته راغلي وه چې په هغې ډله کې د امریکې د بهرنیو وزارت

ketabton.com - The Digital Library



یو ټیټ رتبه کس هم پېښور ته پرته له دې چې راتګ یې اعلان شي په پټه سره د ای. ایس، ای په خوښه راغلی وه.

د حمل په ۲۶ کال ۱۳۷۱ه،ل کې دغه نمایندګان د پاکستان د لوړ پوړو مقاماتو په ګډون د ای، ایس، ای د ځو تنو په ګډون چې نصیرالله بابر هم په کې ګډون درلوده. داوه ګونو ګوندونو مشران پرته له حکمتیاره سره راټول شوه. په هغه وخت کې داسې ویل کېدل چې په دغه غونډه کې په غېر مستقیمه توګه د اسرائیلو یو نماینده هم وه. د نوی حکومت په جوړښت خبرې وکړې.

له هغو آوازونو نه یوه لویه آوازه دا وه چې د انګلستان. فرانسي. امریکا او اسرائیلو نماینده ګانو د جمعیت مشر استاد رباني ته وویل چې که ته د حکمتیار قدرت رسېدو مخه په کابل کې ونیسې نو موږه به تا تمویل کړو تا سره به د وسلو. پیسو او نورو اړتیا وړ شیانو مرسته کوو.

له هغې خوانه د پاکستان مشهور جنرالان لکه جنرال امام، جنرال عبدالحمید او داسې نورو د حکمتیار شا وډبوله چې د دې نورو ګوندونو په مقابل کې موږه له تا نه ملاتړ کوو.

داسې هم ویل کېدل چې استاد رباني د اسرائیلو له نماینده سره دا خبره پخه کړې وه چې کله موږه د کابل حکومت ونیوه اول تاسې زموږه حکومت په رسمیت وپېژنئ بیا به موږه د تاسو حکومت وپېژنوو.

د پېښور په ګورنر هاوس کې مجددي د دوه میاشتو لپاره د رئیس جمهور په توګه وټاکل شو. او حکمتیار د خپلو تېرو اشتباهاتو په لړ کې دا دی بیا همستره اشتباه وکړه.

ketabton.com - The Digital Library



حکمتیار له حکومت نه بهر پاتې شو. په دې توګه د بهرنیانو په لمسون افغانستان بیا د خپل منځي جګړو ډګر وګرځېده.

چې له دې سره په افغانستان کې د اسلامي نظام تاسیس هسې یوه خبره شوه. هغه دعوه کوونکي چې له سل سلنه اسلامي نظام لپاره پرته په بل څه نه قانع کېدل خپل ټول ځواک یې په خپل مینځي جګړو کې اوبه کړ.

په دې ځای کې یوه ډېره اړینه خبره دا هم ده چې په دغه تحولونو کې د روس ډېر لوی لاس وه. ځکه په کابل کې لا هغه ملېشې چې له مسعود سره تړونونه کړي وه تر څو د حکمتیار واک ته د رسېدو مخه ونیسي.

حکمتیار نه غیر اسلامي هېوادونه ټول وېرېدل. هغوی داسې فکر کاوه چې دی غواړي په افغانستان کې یو داسې نظام مینځ ته راوړي چې د نړۍ ټول تند روه مسلمانان په یوه مرکز راټول کړي.

له بله پلوه د روس حکومت هم په افغانستان کې د یوه اسلامي نظام له قیام نه په وېره کې وه خپلو پلوي ملېشو او پټو ملیشو ته چې د مجاهدینو په صفونو کې وه د یو ځای کېدو قومنده ورکړه.

کله چې نجیب له دې کودتا نه خبر شو په سخته وېره کې شو. ځکه لکه مخکې مې چې وویل روسانو ته نور د نجیب حکومت څه ګټه نه شو رسولی او هم په اردو کې د تنې له کودتا نه وروسته یې څه واک نه وه پاتې.

هغه جنرالان چې د شمال (ملېشي مجاهد) ټلوالې ور څخه سترګې سوزېدې هغوی د همدې نجیب په لاس د هغوی په لمسون یا له مینځه لاړه او یا له ملکه بهر ووتل.

ketabton.com - The Digital Library



د ټلوالې د کودتا سره سم نجیب له ډېرې ورخطایی نه د ملګرو ملتونو د فتر ته پناه ورووړه.

چې له دې سره یوه څه آرامه ساه یې واخیسته.

د نجیب یوه ملګري راته وویل:

کله چې زه د ملګرو ملتونو دفتر ته ورغلم او له نجیب سره مې ولیدل هغه ډېر خفه او پښېمانه ښکارېده. کله مې ورڅخه وپو ښتل راته یې وویل:

زه ډېر سخت وغولېدم ما د دوی په لاپو شاپو او قسمونو باور وکړ مګر په ډېرې بې ننګی یې د ما په ضد سازش وکړ.

نجیب نژدې تر لسو کلنو زیات د ملګرو ملتونو په دفتر کې بندې وه. مګر دې اداري یې د تل ژغورنې لپاره هېڅ کوم اقدام ونکړ. چې بیا وروسته د طالبانو له راتګ سره سم په کابل کې په دار وځړول شو.

سره له دې چې نجیب په ښکاره سره یو کمونیست وه . تل یې د افغانانو وینې زبېښلي.

د ده واک په دورکې په لکونو افغانان د خاورو د خوراک شوه. په دې نوم او په هغې نوم یې په شهادت ورسول. چې په ټوله سیمه کې د انسان وژنې او ظلم له کبله په غوایي نجیب مشهور وه.

مګر بیا هم د یوه ملک رئیس جمهور وه په دا توګه پرته له محاکمې یې وژل هم د بشري ټولنو له قوانینو سره په ټکر دی.او هم اسلام دې ته اجازه نه ورکوي چې یو دوه تنه دې د واک اخستو په وخت یو بندي که هر څومره ګنهګارهم وي په خپل سر ووژني. دا د اسلامي شریعت د اصول خلاف خبره ده.

ketabton.com - The Digital Library



د نجیب په دار ځړېدل ځو خواوې لري:

۱--- له ټولو روایاتو نه دا روایت ډېر حق ته نژدې ښکاري هغه طالبانو چې نجیب د ملګرو ملتونو له د فتره راوویسته هغه په ټېټه سطحه طالبان وه چې هغوی سره هومره پوهه نه وه چې د یو ملك رئیس جمهور چې هغه هم په یوه معتبره نړېواله اداره کې بندي وي له هغه ځایه راویستل او هغه بیا په خپل سر په دا ځړول دا ځومره له اسلام او ټولنېزو قوانینو سره په ټکر دی او ځومره د لوی جرم خبره ده که ګنهګار هم وي.

۲--- داسې هم ویل کېږي چې د بهرنیو استخباراتو د کړیو لاس ده ځکه نجیب سره د ځینو ګاونډیو هېوادونو په هکله ډېر مالومات وه.

۳--- داسې هم ویل کیدل چې له نجیب سره د جهادي قومندانانو د ډېرو جنایاتو او له خاد سره یې د اړیکو ډېر اسناد موجود وه چې راسپړل یې ډېرې ستونزې ورته پیدا کولی شوې.

۴--- داسې هم ویل کېدل چې نجیب د روسانو په لمسون د هغوی د نوکرانو په لاس په دار وځړول شو.

ځکه د روسانو د استعماري موخو ډېر اسناد له ده سره وه. چې په ښکاره کولو سره یې د هغوی مرداري ځېرې بربنډې کېدې.

خو د حق خبره همدا ده چې هغه د بې تجربه ځوانو طالبانو کار دي چې دا سې کړنه ورته ویاړ او فخر ښکارېده.

زموږ د ولس وګړي تل د بې ځایه احساساتو ښکار شوي. د دوی له پاکو احساساتو ځخه تل په کمین کې ناست د ښمنانو ناروا ګټه اخیستې. زموږ ولس د نړېوال استعماري قوتونو ځخه د بې ځایه تقدیر په نتیجه کې په

ketabton.com - The Digital Library



جګړو اخته شوي. هر نړېوال ځواک چې خپل د واک پراختيا لپاره هېوادونه لاندې کړي نو په سر کې زموږ هېواد دی.

هر استعماري ځواک له اسکندر نه تر امريکا پورې دا ټول په همدې خاوره کې له خپل استعماري موخو سره له مينځه تللی.

د پېړيو په تېرېدو سره بيا هم زموږه مشرانو خپل اصلي رسالت نه دی پېژندلی. دوی خپل دوست او دښمن ونه پېژانده. تل د استعماري ځواکونو لپاره مفت عسکر جوړ شوي. کله چې په هېواد کوم لوی ځواکمن قوت يرغل کوي په هغه وخت کې ويده وي بيا د څه وخت په تېرېدو سره يې غيرت را وپارېږي بيا د همدې استعماري قوت په مقابل کې په جګړه شي. او له بل استعماري قوت نه مرستې تر لاسه کوي.

پېړۍ پېړۍ واوښتې خو دا قانون لا هغسې روان دی.

طالبانو چې کله کابل ونيوه په دې ونه توانېدل چې خپل واک په ښه توګه د هېواد ګوټ ګوټ ته وغزوي. په کمين ناست د پنجشېر قوماندان احمد شاه مسعود سره يې د جګړې پيل وکړ.

مسعود چې په تبليغاتو کې ډېر مهارت درلوده ويې شو کولی په لنډ وخت کې د استعماري ځواکونو پام ځانته راواړوي. او د مرستو دروازه په خپل مخ پرانېزي.

چې دا د نړۍ د استعماري ځواکونو لوی ارمان وه. مسعود تر هغې وخته له طالبانو سره وجنګېده چې ترڅو د يوه ډېر لوی نړېوال سازش په پايله کې دی له پښو ولوېده.

هغه وخت چې سازش نړېوال په پايله کې او د يهودو د استعماري

ketabton.com - The Digital Library



شیطانت په سازش مسعود د خپلو ملګرو په لاس د سنبلې په ۱۸ کال ۱۳۷۱ ل،ل کې ووژل شو. ورسره جوخت په ۲۰د سنبلې د ۱۳۷۱ ه، ل کې د امریکا په سوادګرېز مرکز باندې د سورلۍ الوتکې وجنګېدې. په همدغه بانه امریکا وویل چې موږ به افغانستان کې د القاعدې مرکزونه بمبارد کوو او د هغوی ټولې ځالې به له مینځه وړو.

چې په حقیقت کې دا د یهودو یو نړیوال سازش وه په دې موخې چې له یوې خوابه امریکا په یوې جګړې کې راګیر کړي او مسلمانان به په همده وټکوي. له بله پلوه به د مسلمانانو هغه ګوندونه چې یهود په راتلونکې کې ورڅخه وېره لري په دغه جګړو کې راګیر او په نښه کړي چې بیا یې له مینځه وړل ورته آسانه شي.

له دې انکار نه شي کیدای چې د نړۍ په سوداګریز مارکیټ باندې اصلي بریدګر همدغه یهودیان وه. مګر په ډېر مهارت سره خپل دغه عمل پټ او په ځای یې د القاعدې په نوم داسې اسلامي ګوندونه ملامت کړه چې تر دې وخته یې چا هم نه وه اورېدلی.

دوی په ډېرې بې شرمۍ سره د اسامه په نوم د سعودي یو لوی شتمن چې د روسانو د یرغل په وخت یې له مجاهدینو سره ډېره مرسته کوله د القاعدې د مشر په نوم ونوماوه. چې اسامه د مرګ تر وخته هم له دې نوم څخه انکار کاوه.

په افغانستان کې یې حاکم طالبانو په دې تورن کړه چې دوی اسامه ته ځای ورکړی. او اسامه دغه برید له همدې ځایه تنظیم کړي. په داسې حال کې چې اسامه له وېرې د افغانستان په غرونو کې په غارونو کې پټ وه.

د هغو الوتکو رېښتینوالی هم تر اوسه ثابت نه دی چې آیا دا الوتکې وې او که د الوتکو په شان جوړ شوي راکټونه؟

دې پوښتنې ته تر اوسه هېڅ ځواب نه دی ویل شوی.

ځکه که دا رېښتینې الوتکې وې نو د هغو کسانو نوم لیکړ ولې خپور نه شو چې په دې الوتکو کې سفر کاوه. چې دا تر اوسه هم معما ده.

یهودیانو په ځانګړي ډول د امریکا هېواد د انګلستان په مرسته د پاکستان هېواد دې ته اړ کړ چې د طالبانو له مرستې نه لاس په سر شي. خو تر څنګ یې داسې بله لوبه جوړه کړه چې طالبان یې په شا ټپول چې ځانونه ټینګ کړئ موږه مو تر شا ولاړ یو.

طالبان هم چې تر دې وخته لا په سیاست کې ډېر خام وه. ځکه دوی جګړه لیدلې وه مګر د سیاست له ډګره ناخبره په دې لاپو شاپو یې اتبار وکړ. د اسامه په هکله یې یو غلط دریځ غوره کړ. کله چې امریکایانو یرغل کاوه طالبانو خپل ټول پوځونه د شمال ولایتونو خوا ته بوتله. ځکه دوی په دې ډاډه وه چې د پاکستان لخوا په موږه هېڅ وخت یرغل نه کېږي.

مګر هغه وخت چې یرغل پیل شو اول راکټ د عربو له سمندرګي نه راپورته شو. او لومړی بم غورزونکي الوتکه د پاکستان له هوایي ډګرونو څخه. په هغه وخت کې د جنرال مشرف د یوه سیمه ایز تلویزیون د خبر نګار په ځواب کې چې ورڅخه ویې پوښتل چې:

تاسو خو د طالبانو پلوي وئ او هغوی ته مو ډاډ ورکاوه چې د پاکستان لخوا به په هوا کې هم امریکایي الوتکه تېره نه شي مګر نن وینو چې د پاکستان له هوایي ډګرونو نه امریکایي ډرون الوتکې په هوا کېږي او په

ketabton.com - The Digital Library



طالبانو یرغلونه کوي؟

مشرف ورته په ځواب کې وویل:

پاکستان بیل ملک دی او افغانستان بیل.

هر یو د خپلو ګټو په لټه کې دی.

موږه ته تر هرڅه د مخه پاکستان اهمیت لري.

دا د افغانانو خپل کار دی چې ځان وساتي.

زموږه یې له بل ملک سره څه.

پاتې شوه د ټرون خبره: د ملک ګټه تر هر ټرونه ګران دی.

تر ټولو د مخه پاکستان په ډېرې بې شرمۍ سره د طالبانو د وخت سفیر (ملا ضعیف) چې تر دې وخته د افغانستان رسمي سفیر وه له سفارت څخه وویسته امریکایانو ته په لاس ورکړ.

همداسې په سلونو د افغانستان قونسلران، سیاسي شخصیتونه، مدني فعالان، د طالبانو ډېر لوړ پوړي چارواکي په ډېرې ناځوانۍ سره ونیول او امریکې ته یې وسپارل.

(اوس چې طالبانو د یوې اوږدې مبارزې نه پس د بیا لپاره حکومت لاس ته راوړه. او د نړۍ سوپر یکه تاز قدرت یې په ګونډو کړ. د افغانستان حکومت یې د بیا لپاره ونیوه. دا سپارښتنه کوم چې تېرې ترخې تجربې تکرار نکړي د بیا لپاره د پاکستان په لاپو شاپو ونه غولېږي د دې ټګ، بې غیرته او بې وفا ملک په خبرو باور ونکړي بلکې د تېرو عملونو پوښتنه ترې وکړي)

د امریکائیانو یرغل پیل شو!

دا منم چې د دوی یرغل یوازې هوایي برید نه وه.

ketabton.com - The Digital Library



او یوازې هوایي برېدونه نه شي کولی یو ملک مات کړي.

نو امریکا په دغه وخت کې د مخالفو قوتونو له مشر ملا فهیم سره اړیکه ونیوه. (فهیم ته خو کرزي خان د مارشالۍ رتبه ورکړه خو دا ترې ونه پوښتل چې دا مارشالي چاته او ولې؟!) له یوې خوا خو فهیم یو ملکی وه نه نظامي چې ده ته دومره لویه رتبه ورکړی شي. له بله پلوه مارشالي باید هغه چاته ورکړل شي چې له هېواده یې د پرد یو بریدونه دروليي وي.

فهیم خو د امریکایانو راتګ ته لاره هواره کړه.او د پیسو په بدل کې یې په ډېرې بې شرمۍ سره یوه بوجۍ دالر واخیستل او خپل هېواد سودا یې له یوه یهودي سره وکړه. همدغه مارشال د ۶۰۰میلونه دالرو په مقابل کې د یهودانو صلیبیانو سره د طالبانو په ماتېدو کې مرسته وکړه . په حقیقت کې که امریکایانو هوایي بمبارۍ کولی او پلی پوځ یې نه درلوده نو د شمال ټلواله یې پلی پوځ شو.

وروسته له یوه ډېرې بې رحمه عملیاتو څخه طالبان مات شو. پنجشیري لنډغر له خپلو نورو بد ماشانو سره د امریکایي الوتکو په مرسته په کابل حاکم شول.

په لنډ وخت کې حامد کرزي ته د حکومت واګې ور وسپارلې. که کرزی رئیس جمهور وه مګر رېښتینی واک ټول د فهیم په لاس کې وه. د پرېکړو واک له فهیم سره وه.

له هغې ورځې وروسته د نړۍ مرستې د افغانستان په خوا راماتې شوې.

هغه خلکو چې له امریکا نه مرسته راوړه هغه هم غله وه.

او هغو خلکو ته چې دا مرستې سپارل کېدې هغه هم غله وه.

ketabton.com - The Digital Library



په افغانستان کې نور واک د غلو، او بد ماشانو په لاس کې پریوت.

د حکومت او حکومتدارۍ ګلیم ورټول شو.

ټول افغانستان د پنجشیري لنډغرو په واک کې شو.

یوازې یو څو تنه په شمار تمه لرونکي انسانان وه چې په اصل کې د شمال ټلوالې تالي څټي وه.

د امریکا په بوجیو دالر راتله او همدغه غلو به په خپل مینځ کې وېشل.

په کابل کې داسې یو حکومت حاکم شو چې پرته له ځان څخه یې بل څه او څوک نه پېژانده.

دلته د بد ماشانو پاچا یې شوه.

دلته په دننه حکومت کې په چور چپاول او غصب سیالي وه. له جمهور رئیس نه نیولی تر پیاده پورې ټول د رشوت په فکر وه.

دلته خدمت د لوړ پوړو ودانیو لپاره وه.

هره خواته د ښکلو بازارونه او د ښکلا خرڅلاو وه.

دلته درې شیانو اهمیت درلوده.

(کاسه، بوسه، او پیسه)

د کار لپاره دا درې توکي معیار شوه.

د ښځو بازار ښه ګرم وه.

که به یوه ډېره بیکاره ښځه به وه خو چې ښکلې به وه او پنځه لیسانسه هلکان به وه هغه د دولسم ښکلي فارغه به منل کېده خو دغه لیسانس او ماستر به څواب کېده.

نور څوکی د پیسو په مقابل کې پلورل کېدې.

ketabton.com - The Digital Library



یوې نجلۍ راته وویل:

دا د ښوونکي بست زما شخصي دی دا ما په اویا زره افغانۍ د وزارت معارف نه اخستی.

ښځې که بې سواده هم وي خو چې ښکلې به وي او یوې استخباراتي کړیو سره به تړلې وي هغه د وزارت څوکۍ ته په آسانه سره رسېدې شوه. د امریکا په لاس جوړ شوی حکومت او بیا په هغې کې د داسې خلکو گومارل چې په ټولنه کې د پریوتو مزدور او غلام طبقې څخه به وي.

دې خلکو ته اسلام، وطن او د وطن خلک هیڅ اهمیت نه درلوده. دوی ته یوازې پیسې ښه ښځه کول یې په هره توگه وي ښه کور او د ځینو خو لا د ښه هلک ساتل، لکه مارشال په خلکو سپیان ساتل آسونه ساتل ډېر اهمیت درلوده. له خلکو نه په زوره د ځمکو نیول. د کورونو غصب کول په شخصي مالونو منگلولې خښول. دا خو د حکومت د اراکینو تر مینځ ورځنی کار وه.

ښایسته نجلۍ پیدا کول او له هغې سره په هره ممکنه وسیله واده کول، د یوه واده له ځایه څو وادونه کول. دا یوه سیالۍ گرځېدلې وه.

دا وضعیت همداسې روان وه. ورځ تر ورځې د کرزي حکومت په فساد کې ککړېده.

د فساد کچه دې حد ته رسېدلې وه چې نور یې بېلگه په نړۍ کې نه پیدا کېده.

په ټوله نړۍ کې دا خبره مشهوره وه چې افغانستان په فساد کې اول درجه هېواد دی.

مگر په حکومت کې هغه خلک چې په لوړو پوستونو کې کار کاوه لکه

ketabton.com - The Digital Library


مړضانو په شان په غوړو کانه وه دا خبرې يې هېڅ نه اورېدې.

کرزی چې په دغه وخت کې د حکومت زمامدار وه داسې يوه پالیسي يې خپله کړه چې خلک يې د امریکا په پیسو خپلول. د نړۍ والې ټولنې لخوا چې څومره مرستې راتلې هغه يې په دا لنډغرو وېشلې. هغه سیاسي ګوندونه او قومي ګوندونه چې پیل يې په قوم ګرایۍ شوی وه لکه د هزاره ګانو چې یوازې د هزاره قوم پورې اړوند ګوند وه.

او یا جنبش ملي چې ټول په کې ازبک قوم وه.او یا د شمال ټلواله چې اکثریت په کې د یوې ولسوالۍ پنجشېریان وه. دا ګوندونه څه د روسانو د یرغل په وخت د پردیو په لمسون جوړ شو او یا د روسانو له ماتې وروسته.

دا قومي ګوندونه په حقیقت کې قومي غونډونه وه.

د دوی لپاره کرزي ځانته د حکومت له بودیجې نه د مصارفو په نوم ډېرې پیسې ورکولې.

او هغه بنسټونو ته چې د یوه ځانګړي موخې لپاره جوړ شوې وي.

کرزی له داسې سیاستمدارانو سره مخ وه چې هغوی ته پرته له خپلو ګټو نور هېڅ هم اهمیت نه درلوده. هغوی د سیاست ډګر ته د ژبې او قومیت پر بنسټ راپورته شوي وه.

هغوی ته نور هېڅ اهمیت نه درلوده. داسې یو قوم وه چې کله به واک وه نو دا حکومت بیا قانوني وه. خو چې کله به له واکه لرې شو بیا نو دا حکومت به يې په قوم پالنه ژبپالنه او نورو تورونو تورن کړ.

داسې سیاست مداران چې د سیاست په اصولو هېڅ خبر نه وه.هغوی یوازې د پیسو ټولېدلو ته ژمن وه.

ketabton.com - The Digital Library



د کرزي د حکومت دوره ټوله په همدې اپلتو تېره شوه. په هېواد کې هېڅ داسې بنيادي کار ونه شو چې د ولس دمه پرې جوړه شي.

دا داسې غله وه چې له کوره يې غلا کوله او د ګاونډيانو کورونه يې پرې آبادوله.

که نن سبا يوه رېښتينې څېړنه وشي نو د پاکستان د لاهور په هره کوڅه کې زموږه د افغانانو څو فابرېکې شته. که په يوه کوڅه کې لس فابريکې وي نو څلور به يې زموږه د افغانانو وي.

دا اکثره هغه خلک دي چې په سياست کې هره خبره د پاکستان پورې تړي. خو په حقيقت دوی خپله د پاکستان د ای، ايس، ای ځانګړي نماينده ګان دي. د دې لپاره چې دوی خپله رسوا نه شي او دغه شرمېدلی عمل يې د خلکو مخې ته رانه شي نو هره خبره يې همدا ده چې پاکستان!

کرزی يوازې دې ته خوښ وه چې زه رئيس جمهور يمه. نور يې هېڅ صلاحيت هم نه درلوده کرزی په ارګ کې له څو خواوو نه محاصره وه. له يوې امريکايي مشاورين او جنرالان وه. له بله پلوه د شمال د ټلوالی د ډلې مشران وه ورسره د هزاره د ګوندونو مشران. کرزی مجبور وه د دې ټولو خبره په سره سينه واوري. په نور ملت چې هر څه تېرېده پروا يې نه کوله. داسې يو دولت چې د دنيا ټولې پيسې دلته راغلې خو لپاره د دې چې د ملت په ګټه ولګول شي د غلو او بدماشانو جيبونه پرې ډک شول. په بهر کې د نړۍ بانکونه هم د همدې انسانانو په پيسو ډک شوه.

که امريکا په زرونو مليارده دالر د مرستې په نوم دلته راولېږلې په مقابل کې داسې کړنلاره ورته غوره کړه چې دا پيسې په سر کې د امريکايي قرارداد

یانو او بیا د خپله افغاني قرار داد یانو چې دغه قراردادیان اکثریت پنجشیري وه حیف او میل شوې.نن سباوینو چې همغه قراردادیان میلونران دي. د کرزي په حکومت کې چې کومه بد ماشي ده کوم ظلم دی کوم تېری دا ټول د همدغه پنجشېرې بدماشانو لخوا تر سره کېږي.

په هیواد کې اختطاف، غلا، وژنه، دا ټول د همدې ډلې کار دی. ځکه چې دوی پیسی لري کرزی دې خلکو داسې را محاصره کړی چې ځان ترې نه شي خوزولی.

اوس که امریکا دا برېتونه تاووي چې موږ له افغانانو سره ملیاردونه دالر مرستې کړي. دا هسې غلطي کوي. بلکې هغه دې په زغرده اعلان وکړي چې موږ دا مرستې په افغانستان کې د خپلو قراردادیانو او پنجشېرې قراردادیانو سره کړي. نه له افغانانو سره.

امریکایان به دا هم په افغانستان حسابوي چې د کابل هوایي ډګر موږ رغولی.[1]

د کرزي د حکومت دوره خو ټوله همداسې په رشخند وه او تېره شوه چې په تاریخ کې به لیکل کېږي. دکرزي د حکومت ډېر ناکامه کارنامه دا هم وه چې امرئکایان یې په دې قانع نه شو کړی چې د حکومت له مشورې پرته به په افغانستان کې خپل سري عملیات نه کوي. مګر امریکایانو دا کار په

---

[1] کله چې د وږي (سنبلې) په ۱۸ نېټه د امریکایانو وروستۍ الوتکه په هوا کېده نو د کابل د هوایي ډګر ټول شته یې له منځه یوړل. روغې الوتکې، موټرې، هانوې ټانګونه د ډګر خپله د زغاستې لیکه، انتظارخونه، رادارونه، او نور هر څه چې په مخه ورتله هغه یېله مینځه یوړول.

ketabton.com - The Digital Library



ډېرې خوښۍ سره تر سره کاوه. او له هغوی سره چې هر څومره ژباړونکي وه هغه ټول په سرکې پنجشېري بيا د کاپيسا ورپسې هزاره ګان وه چې دا خلک ټول د پښتنو سره دښمنان وه. هغوی به امريکايانو ته غلط ګذارشونه ورکول او د امريکايانو به هم پرته له دې چې د افغانستان حکومت پرې خبر کړي په خپل سر به يې عمليات برابر کړ.

يو بېګناه انسان به يې د شپې لخوا ونيوه په داسې حال کې چې همدغه نفر يې پرته له کوم مزاحمته نيولی شو. مګر د شپې لخوا يې چاپې اچولې چې دنيا ته داسې وښيي چې دا ډېر لوی تروريست او ډېر لوی شخصيت وه. هغه به يا ښوونکی وه. يا به بزګر وه. يا به ډرېور وه. يا به دوکاندار وه. خو د يوه ډېر لوی تروريست په نوم به ونيول شو بيا به د زندان د تورو تمبو شاتو په بګرام او يا په ګوانتانامو کې پرته له کوم جرم او يا کومې دوسېې پروت وه. چې د کرزي د حکومت په مقابل کې حساسيتونه له همدې کبله زياد شو.

د طالبانو تحريک چې د امريکايانو له راتګ سره په بشپړه توګه له مينځه تللی و. د همدغو بې مسئوليته عملياتو له کبله ورو رو بېرته ورځ تر ورځ پياوړی شو.

په سر کې چې هغوی په ولسواليو کې عمليات نه شو کولی په کرا کرا سره د عملياتونو لړۍ لويو ښارونو ته ورسېده. چې د ورځ په تېرېدو سره دا تحريک نړېوال کېده. او د کرزي حکومت د فتنو او د فساد په لور روان وه. له نړۍ نه يې فاصله اخيسته. تر دې چې په نړۍ کې د يوه مفسد حکومت په نوم وپېژندل شو.

له ده وروسته د ده ځاي ناستی او مېراث خور اشرف غنی شو. د ده په

ketablon.com - The Digital Library



ټاکل کېدو افغانان څه نا څه خوښ وه چې که کوم قانوني حکومت مېنځ ته راشي. او د ناخوالو پوښتنه وشي.

اشرف غني دوه ځلي د ټاکنو په پایله کې ګټونکی اعلان شو. مګر د ده مقابل لوری چې د یوه عجیبه سیاست څخه برخورداره وه له هرې ناکامۍ نه پس به یې دواړه پښې په ناولو موزو کې ننوېستې دا یوه خبره به یې کوله چې نه یې منم.

د ده په هکله په رسنیو کې دا متل ډېر مشهور شوی وه چې (ګل مرجان یې نه مني) ده د خپل د مشر خبره په ښه توګه سره تطبېقوله.

مسعود چې د مخالفې ډلې مشري یې په غاړه وه او له یوه عجیبه سیاست نه برخورداره وه په ګلبهار کې په خپله یوه بیانیه کې ویلي وه چې:

(پښتانه د خپل د عزت لپاره له هر مقام نه تېرېږي نو تاسې په خپل شله توب او بې شرمۍ سره کولی شي په دوی هرڅه ومنئ.)

داکتر عبدالله چې نه یې په سترګو کې د انسانیت اوبه وي. نه یې د سړیتوب حیا درلوده. او نه د سیاست له انساني خوی او بوی سره آشنا وه څلور ځله یې ټاکنې وکړې. هر ځل به یې ماتې خوړه خو بیا به هم را پورته شو دا یوه خبره به یې کوله چې په ټاکنو کې تګې شوې نه یې منم. هر ځل به یې د څو غلو په بدرګه دغه شعارونه تکرارول .

نه یې منم!

تګي شوې!

خو چې کله به ځینو څېرو مېنځګړیتوب وکړ چېرې به یوه څوکۍ ورکړه بیا به نه تقلب وه نه به تګي برګي وه. بیا به همغه حکومت قانوني وه.

ketabton.com - The Digital Library



نړۍ هم په دې خبره ښه پوهېده خو هغوی دا زیار ایسته چې باید په افغانستان کې داسې یو نظام حاکم وي چې هېڅ کار ترې جوړ نه شي. ضعیفه دولت وي چې د دوی پلانونه په کې په ښه توگه تطبیق شي.

اشرف غني د دوهم ځل لپاره وټاکل شو د ژمنې په ورځ بیا عبدالله لا لا یو څو غله ډاکه ماران او د چور چپاول خاوندان راټول کړه له اشرف غني سره یې سم ځان د جمهور رئیس په توگه وټاکه. او د یوه ډېر مشهور غله په لاس یې ژمنه وکړه .

مگر د ځینو سیاست مدارانو په مینځگړیتوب د اشرف غني لخوا ورته ټاکل شوې څوکۍ چې د سولې د عالي شورا ریاست وه په غاړه واخیسته بیا نه ریاست جمهوري وه او نه ټگي برگي. بیا دا حکومت قانوني شو هر څه سم دم شوه.

دلته سړي ته سوال پیدا کېږي چې که چېرته په رېښتیا سره هم په ټاکنو کې ټگي برگي شوې وه او ته په رېښتیا سره ټاکل شوی رئیس جمهور وې بیا نو ولې په ټېټه څوکې قانع کېږې.

خو حقیقت دا دی چې دا خلک د واک لپاره هرڅه مني خو چې واک ته ورسي. د دې پروا نه کوي که د دوي عزت پایماله کېږي او یا د ملک عزت او آبرو توئېږي. دا هرڅه دې وشي خو چې دوی په واک کې وي.

اشرف غني چې د اقتصاد په برخه کې په نړۍ کې یو وتلی شخصیت دی مگر په سیاست کې بیا دومره ماهره نه دی. خو بیا هم زموږ په سیاستمدارانو کې یو څه پوی سیاستمدار وه .

په ړندو کې د یو سترگې خاوند پاچا وي!

ketabton.com - The Digital Library



ده وشو کولی څه ناځه هېواد له اقتصادي بحران څخه وباسي. د غله او د چور چپاول خیلانو مخه ونیسي. هیواد په اقتصادي لحاظ سره په پښو ودروي.

افغانستان یوڅه له اقتصادي کمزورۍ نه وژغوري.

ګاونډي دښمنان ګوښې ته کړي. هغه هېوادونو چې به په یوه ځل د بندر په بندېدو سره به په ملک کې یو بحران را ولاړېده له انزوا سره مخ کړه.

د ملک په پرمختګ کې یې ډېر زیار وایسته.

د پوهنې په برخه کې چې اصل د پرمختګ دی ډېر کار وکړ.

هغو غلو ته به چې میاشتني په مختلفو نومونو پیسې ورکولی کېدې هغه یې په ټولو بندې کړې.

دروغجن سیاستمداران یې ورو رو ګوښې ته کول.

په هیواد کې یې د تولیدي فابریکو کچه زیاته کړه.

هغه څه به چې له بهره په ډېرو پیسو راوړل کېدل دلته یې د تولید زمینه ورته برابره کړه.

د هیواد د ننه تولیداتو ته یې د بهرنه راوړل شوو توکو نه زیات ارزښت ورکاوه او بازارونه یې ورته برابرول.

د محصلینو بهر ته د زده کړې لپاره ډېره ښه زمینه برابره کړه.

ورځ تر ورځې یې د تولیداتو کچه لوړوله.

د پاکستاني او ایراني وارداتو باندې ساحه تنګېده.

د افغانستان د اوبو لپاره یې ښه مدیریت وکړ.

هغه اوبه چې په مفته پاکستان او ایران ته تلې د هغو لپاره یې بندونه

ketabton.com - The Digital Library



جوړ کړه او هغه یې مهار کړه.

په ښکاره سره یې اعلان وکړ چې یو بېلر اوبه یو بېلر تیل.

په بهرنیو مصنوعاتو یې تر ډېره حده بندېزونه ولګول.

کرهنې ته یې ډېره وده ورکړه.

کرهنېزو تولېداتو ته یې په بهر کې بازارونه پرانیستل.

د سواداګرو لپاره یې ډېرې آسانتیاوې برابرې کړې.

د بهرنیو وارداتو کچه راټیټه شوه.

ورو رو هېواد د پرمختګ په لور ګام پورته کاوه.

هیواد د قانونیت به خوا روان وه.

د هېواد اقتصاد یې لوړ کړ.

پانګه والو ته یې ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې.

دوی ته یې ډېر امتیازونه ورکړه.

په د ننه کې یې څه نا څه مخالفین هم را مات کړه.

خو بیا هم د بهرنیو هېوادونو په مرسته په دننه کې مخالفینو ته مرستې ورکول کېدې او د نظام په ضد راپارول کېدل.

لویه خبره زموږه د ګاونډیو دی په ځانګړي ډول د پاکستان!

لکه مخکې مې چې وویل:

پاکستان د اسلام په نوم جوړ شوی ملک دی مګر په حقیقت کې د اسلام په ضد یو مصنوعي هېواد دی.

د لته زما د پاکستان له ولس سره څه کار نشته.

د پاکستان ولس په رېښتینې توګه یو مسلمان هېواد دی.

ketabton.com - The Digital Library



خو ستونزه ټوله د سیاستمدارانو دی.

د پاکستان سیاستمداران ټول له یوې بهرنۍ کړۍ پسې تړلي دي.

ټول له بهره تمولېږي.

دوی ته چې څنګه پیسه ورکول کېږي هومره کار هم ترې غواړي.

په نړۍ کې هېڅ داسې یو ملک نشته چې په مفته کې خپل شته د نورو لمن ته راوغورزو.

دا ښکاره خبره دی چې دا ملک به ضرور مرسته شوي ملک نه یو څه غواړي.

لکه د پښتو دا شعر چې ډېر پخوا کې ویل شوې د دې خبرې شاهدي ورکوي.

څه راکړه جانانه چې زه څه درکړم

ته چې څه رانکړې زه به څه درکړم

نو پاکستان هم د دوه استعماري هېوادونو په لاس جوړ شوی یو مصنوعی هېواد دی. یوه برخه یې له هند څخه او بله برخه یې د افغانستان یوه برخه .

د دې هېواد په سیمه کې د اسلامي ګوندونو د ناتوان کېدو دنده (هغه که اسلامي وي او که غیرې اسلامي وي خو چې د امریکا او انګلستان مخالف وي) په غاړه دی.

پاکستان ځان په سیمه کې یو بشپړ اسلامي مملکت حسابوي خو قانون یې تر اوسه د انګلیسانو په لاس چې په پیل کې جوړ شوی د نافذ وړ دی.

د پاکستان د حکومت د سیاست ټاکونکی د ای، ایس، ای استخباراتي اداره ده چې د پاکستان له جوړېدو سره په کې فعاله شوې.

ketabton.com - The Digital Library



دا اداره له داسې یوه سیاست څخه کار اخلي چې هم د خپل ولس په منګلو کې وساتي او هم د نیا پرې وغولوي.

په پاکستان کې دینې مدرسې ډېرې زیاتې دي.چې دغه مدرسې د دې ملک لپاره یوه ښه وسیله ګرځېدلي. دا مدرسې په ظاهره سره په چندو چلېږي. مګر په حقیقت کې دا د ای، ایس، ای لپاره ښې اداري دي. او مصارف یې هم د ای، ایس، ای لخوا ورکول کېږي. له مدرسو فارغ شوي علماء اکثره د ای، ایس، ای پورې تړلي وي. دغه علماء چې مدرسه یې لوستې وي مګر له سیاست نه ناخبره وي.

دوی هر کار ته د شریعت له نظره ګوري. خو بیا تعبیر یې ورته بل رنګ کوي. د بیلګې په توګه په پاکستان کې د انګرېزانو په لاس جوړشوي قانون ته ائین واي. همدغه علماء پاکستان د آئین له کبله اسلامي ملک بولي. هلته بیا جهاد ناروا بولي.

هلته د ښځو لپاره د هر رنګ تعلیم اجازت شته. ځکه چې آئین لري .

مګر خبره د ګاونډیو هېوادونو شي بیا دا وایي چې دې ملک کې شرعي قانون نشته هلته جهاد روا دی.

همدغه علماء په پاکستان کې ټول ټاکنې روا بولي. خپل زعیم د ټاکنو له لارې ټاکي.

بیا چې خبره د افغانستان شي دلته بیا نه د ښځو تعلیم روا بولي. نه ټاکنې روا بولي بیا دې ته غیرې اسلامي ملک خطاب ورکړي. دلته بیا جهاد روا دی. په دې توګه دا مصنوعي هېواد خپله مسلمان شي او نور ملکونه غیرې اسلامي. بیا د همدې علماؤ په خوله هرې پېښې ته روایت پیدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library



له دې تولو خبرو سره بیا هم دا ملک خپلو بادارنو ته د ډېر اتبار وړ دی. خکه چې د هغوی د اهدافو پوره کوونکی دی.

کله چې په افغانستان کې یو داسې نظام رامینځ ته شي چې هغه د دې ملت لپاره خدمت کوي او غواړي دا هېواد له ستونزو وباسي. بیا د پاکستان د استخباراتو شبکې فعاله شي د همدغه ملایانو په مرسته د هغه حکومت په ضد په پراخه کچه تبلیغات پیل کړي. او په ضد یې همدغه د مدرسو ملایان راپورته کړي.

د جهاد جهاد ناري شي. دا له سیاست نه ډېر لرې ولس د همدغه ملایانو په تبلیغاتو وغولېږي په ملک اړی ګړی جوړ کړي.

خو که بیا د خپلو لاسپوځو ملایانو په مرسته یې څه ونه شو کړی بیا خپلو بادارانو ته ورشي ننواتې ورته وکړي. ترڅو هغه د پاکستان په ضد حکومت په مختلفو بهانو ړنګ کړې او خپل اهداف لاس ته راوړي.

دا د دوی ډېر لوی سیاست دی.

هغه وخت چې اشرف غني په هېواد کې اقتصادي پروګرامونه پیل کړه دلته د ډېرو پروژو کارونه په منظمه توګه پر مخ بېول. چې د دغو کارونو په لړ کې د برېښنا او ابګیر د بندونو په عاجله توګه جوړېدل وه.

کله یې چې د کمال خان او سلما بندونه ورغول او عملاً هغه سیندونه مهار شول نو پاکستان ورخطا شو چې نن یې په ایران اوبه بندې کړې نو کېدای شي سبا ته په ما باندې دا اوبه بند شي. ځکه د کونړ په سیند چې کله د هند په مرسته بندونه ورغول شي نو دا پاکستان ته د یوه لوی خطر زنګ دی.

ketabton.com - The Digital Library



د دې لپاره چې له خطره وژغورل شي نو د خپل د شیطاني مسلک له مخې يې خپلو بادرانو ته ډېرې ننواتې وکړې چې له دې غمه يې بې غمه کړي.

هغه باداران يې چې د همدې شيطان ملک په مرسته يې د طالبانو اسلامي امارت رنګ کړ او په خپله يې د يوه اشغالګر هېواد په توګه په دې ملک يرغل وکړ. د خپل د يرغل او اشغال په پايله کې يې په لکونو بې د فاع انسانان له خارور سره خاوره کړه.

د پاکستان شیطاني هېواد له يوې خوا د افغانستان له حکومت سره اړيکې ساتلې له بله پلوه يې د طالبانو تحريک سره له نورې نړۍ څخه مرستې را اخيستې او طالبانو ته يې ورکولې سره له دې چې د اوبايم کلونو کې د طالبانو د ماتې په وخت د طالبانو ډېر مشران د همدې هېواد لخوا لاس تړلي امريکې ته وسپارل شوه.

وايي:

سياست مور او پلار نه لري.

د همدې فورمولې پر بنسټ د هېچا په خبره او سياست اتبار نه شي کېدای. هر هېواد او بيا هر ګوند ځانته اهداف لري او د همدې اهدافو پر بنسټ پر مخ ځي. هرچا ته خپلې ګټې معتبرې دي هېڅوک د بل لپاره ځان نه تباه کوي.

د طالبانو په تېره دوره کې د پاکستان رول ډېر قوی وه. مګر په دې کچه هم نه چې د دوی د سياست کرنلاره ورته ټاکي.

د هر ملک ګټې بېلې دي هېڅ داسې ملک نشته چې پرته له کومې

ketabton.com - The Digital Library



موخې خپل شته کوم بل هېواد او یا کوم سیاسي بهیر ته ورکړي.

افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه دی چې تل د نورو لپاره ځان قربانوي. آن تر دې چې د ځان له ګټې د بل ګټې بیا له ځانه پورته ګڼي. چې موږه سره یې بېلګې ډېرې زیاتې دي.

کله چې د امریکا دوه د سوداګرېزو برجونه د الوتکو او یا د الوتکو په شان په جوړو شوو راکټونو وویشتل شوه. د هغه وخت رئیس جمهور جورج دبیلو بش یې په پړه القاعدې وغورزوله چې مشر یې ورته اسامه وښوده. او د اسامه ځای یې افغانستان یاد کړ.

په دې توګه طالبان په هغه جګړې کې کېوتل چې باید نه وی شوی. امریکې پوره شل کاله د افغانستان په مظلوم ولس د تروریست په نوم داسې ظلمونه کړي چې په دې نړۍ کې به هېڅ یوه ولس په بل ولس نه وي کړی. په داسې حال کې د امریکا او متحدین یې د ناټو ټولنه د ملګرو ملتونو په خوښه راغلی وه. شعار یې دا وه چې موږه د افغانانو د مرستې لپاره راغلي یو.

که چېرته په هغه وخت کې طالبانو د یوه سیاسي پوهې نه او مصلحت نه کار اخیستی وی نو کېدای شوای چې په هغه وخت کې افغانستان له دغه بدبختۍ نه بچ وی. نه به دا دوه لسیزې دومره بدبختۍ پېښېدې. نه به دا دومره انسانان له مینځه تلل. نه به زموږه بنیادونه له مینځه وړل شوي وه. نه به مو دومره کدرونه له لاسه ورکول.

له بده مرغه چې طالبانو په هغه وخت کې له حکمت نه کار وانه اخستی شو. او نه یې د ملت له پوهو خلکو سره سلا مصلحت وکړ. کنه په لږ څه کې

زموږه هېواد له تباهۍ نه بچ کېدای شوای.

امریکې له طالبانو څخه اسامه غوښته. که چېرې طالبان په هغه وخت کې له حکمت نه کار اخیستی وای داسې یو قرار داد یې وړاندې کړی وای چې موږه اسامه یا د اسلامي هېوادونو ګډې شورا ته ورسپارو. بیا له هغې وروسته د هغوی کار دی چې څه کوي.

او یا دا چې ملګرو ملتونو ته یې سپارو چې هلته په عدالت محاکمه شي.

او دا یوه یې هم نه کولی داسې هم کولی شوای چې اسامه یې یو دریم ملک ته په پټه سره لېږلی وی. ورسره جوخت یې اعلان کړی وی چې اسامه د یوې چاونې له کبله له خپلو څو ساتونکو لخوا د په ډېره ناځوامردانه توګه له مینځه لاړه.

ورسره یې د ده فاتحه او دعا اخیستې وای او امریکې ته یې درکې ورکولی چې تا زموږه په خاوره کې زموږه مېلمه وژلی موږه یې د نړۍ په کچه له تانه د دې بې عزتۍ تاوان غواړو.

اعلان یې کړی وای چې د ملګرو ملتونو نمایندګان دې راشي او د افغانستان ګوټ ګوټ دې ولټوي چې اسامه دلته شته کنه.

په دې توګه به یې هم خپل ځان او هم افغانستان بچ کړی وی.

مګر طالبانو داسې ونکړه او ټولې نړۍ سره پنجه ورکړه. چې دا د دوی یوه ډېره لویه سیاسي تېر وتنه وه.

د یوې هېواد زمامداران باید دا هڅه وکړي چې په هره ممکنه توګه وي خپل هیواد او خپل ولس بچ کړي. د هېواد ژغورل تر هرڅه معتبره دی. که هېواد وژغورل شو نو ولس وژغورل شو. کله چې ولس وژغورل شو نو د عزت

ketabton.com - The Digital Library



ژوند يې په نصيب شو.

لکه پاکستان ته چې په هغه وخت کې بش د امريکې رئيس جمهور ورته وويل:

خپله خوا مالومه کړه.

يا د طالبانو پلوی وکړه او يا له موږه سره مرسته.

کنه نقشه به ددې د نړۍ له نقشې ورکه کړم.

هغه وخت په پاکستان کې مشرف واکمن وه.

له مشرف نه پورته خائن او لا دينه انسان بل نه وه.

هغه د يهودي انګرېزانو په مشوره کار کاوه.

نو له وېرې او د خپلو سياستمدارانو په مشوره يې داسې حکمت غوره کړ چې هم يې پاکستان وژغوره او هم يې خپل ولس وژغوره. چې په دې کار يې په ملياردونه دالر لاس ته راوړه.

په هغه وخت چې طالبانو له امرېکې سره پنجه نرموله نو پاکستان يو عمومي شعار جوړ کړ چې وېلې يې (سب سې پهلا پاکستان) .

دا د هغوی د ژغورنې شعار وه. مګر زموږه طالبانو داسې يو حکمت نه کار وا نه شو اخيستی چې خپل هېواد وژغوري. چې په پايله کې په زرونو طالبان او لکونو افغانان له مينځه لاړل ښارونه مو په کنډوالو بدل شوه. ګټه يې پاکستان خپله کړه.

د کرزي او اشرف غني په حکومتونو کې هم داسې پوهه نه وه چې له سياسي حکمت نه کار واخلي او له راتلونکو بدبختيو نه ځانونه وژغوري.

زموږه افغانان په ټولېزه توګه ځان غوښتونکي کبرجن او مغروره دي.

ketabton.com - The Digital Library



هېڅکله يې له ځان پرته بل لوړ ونه باله. تل يې په خپلو ګټو پام وي.

که زموږ سياستمداران يو ځل واک ته ورسيدل بيا پرته له ځان نور ټول خلک خپل غلامان بولي. بيا ورته خپله واکمني او خپل ځان اهميت لري. د ځان لپاره په زرونو انسانان تباه کړي خو د ده پرې پروا نه وي. د خپل د واک لپاره د خپلو دښمنانو سره سازشونه کوي.

خو له خپل ولس سره يو مصلحت هم نه کوي.

چې د تاريخ په اوږدو کې دا زموږ د ولس او هېواد يوه لويه بدبختي ده. د کابل د ارګ څوکۍ دومره خوږه ده چې يو ځل هرڅوک پرې کښېناسته بيا هغه له مرګه پرته بېرته ترې نه پورته کېږي. بيا د ولس ګټې ورته هيڅ ارزښت نه لري. يوازې د خپلې د واکمنۍ د ساتلو په غم وي.

همدغه د واک مينه ده چې زموږ واکمن تل د استعمارګرو په لومو کې لوېږي. هر وخت د پرديو د لاس ناوکۍ شي.

که موږه د تاريخ پاڼې راواړوو وبه وينو چې زموږ واکمنو تل د خپل ولس له ځواکمنۍ نه د استعماري قوتونو تر لاس لاندې کېدل ورته ښه ښکاره شوي.

خو کله چې يو سلطان محمود، ميرويس خان او احمد شاه بابا پيدا شوي او د خپل د ولس په واکمنۍ يې اتبار کړی او د خپل د ملت له زور، پوهې او تجربو نه کار اخيستي نو لويې واکمنۍ يې جوړې کړې.

د تاريخ په اوږدو کې دا زموږه بدبختي ده چې کله ولس د يوه واکمن شاته ودرېږي ترڅو دې ولس ته خپلواکي، آرامي، سوله راولي او کار را پيدا کړي. ولس ورسره په کلکه ولاړ وي مګر بيا هم د خپل د ولس ملاتړ پسې نه

sanitaxon.com - The Digital Library



گرځي د استعماري قوتونو غلامي د ولس له ملاتړ او خپلواکۍ نه ښه گڼي. په دا څلورو لسېزو کې چې څومره واکمن تېر شوي هغه ټول په همدې تله تللی شوي. تره کي، حفیظ الله امین، کارمل، نجیب، برهان دین رباني، د طالبانو اوله دوره بیا د کرزي، اشرف غني او ځینې نورې څېرې د دې پرځای چې د خپل ولس ملاتړ او د ولس په مېړانه اتبار وکړي د دښمن په زور او قوت اتبار کوي. او د غلامۍ هغه خطرناکه کړۍ غاړه کې اچوي چې له کبله یې لوی ولسونه له تباهي سره مخ دي.

بیا همدغه خلک د استعمار په مرسته د خپل د ولس په ځپلو لاس پورې کړي. چې تره کی امین، کارمل، نجیب، د مجاهدینو ډلې ټپلې، ترڅّه حده طالبان، کرزی له پنجشیري لنډغرو سره او اشرف غني چې دوی د خپلې واکمنې په دوره کې تل د دې مظلوم ولس وینې د امریکا او ناتو په زور او قوت سره ځپلې. دا ولس یې بدبخته کړی دی. د دې ولس ټوله مادي او معنوي شتمنی یې ورته له مینځه وړي. په لکونو انسانان یې تورو خاورو ته لېږلي کورونه یې ورته په اور لولپه کړي بازارونه او په هغه کې ټولې شتمنی یې ورته له مینځه وړي.

د دومره کارونو سره سره بیا هم بادار ورنه خوښ نه دی.

نن سبا په اسلامي هېوادونو کې د ښځو د حقوقو شعارونه ډېر زیات دي. ځکه دوی پوهېږي چې د ښځو په واسطه په ټولنه کې فساد ډېر ښه خورېږي.

د دغو شعارونو په پورته کولو کې بیا روزل شوي غلامان ډېر رول لري.

د افغانستان په مظلوم ولس باندې دا پنځه لسېزې کېږي چې یوه ورځ

ketabton.com - The Digital Library



يې هم په خوښۍ او په خوشالی سره تېره نه شوه.

هره ورځ بمبارد هره ورځ چاودنې، هره ورځ جګړه او ورسره زندانونه. دا د استعماري ځواک فلسفه دې.

په ځینو وختونه کې داسې هم کېږي چې لاسپوځې د هیواد له چارو هېڅ خبر هم نه وي یوازې د نړۍ د تېر اېستلو لپاره یې واک ورکړی وي. واکمن وي خو اختیار هیڅ نه لري.

کرزی او اشرف غني تر ډېره حده له همداسې واکمنو څخه وه. دوی که هرڅه ویل خو خبره یې چا نه اورېده. د دوی واک یوازې د نړۍ د تېر ایستلو لپاره وه او بس.

که دوی د ټاکنو له لارې هم وټاکل شوه خو هسې نانځکې وې. د بېلګې په توګه که به کرزي او اشرف غنی هرڅه ویل چې د حکومت له مشورې پرته دی بمبارد نه کېږي. مګر د دوی خبرې ته چا غوږ ګراوه.

د دوی ترڅنګ بیا هسې غلامې څېرې راتاو شوې وې چې د حکومتدارې په هېڅ خوا کې دا دواړه کار ته نه پرېښودله.

هغوی چې د استعمار اصلي غلامان وه. مګر د خپل د بادار په خوښه یې د پردې تر شا کار کاوه. تل یې د هغو پروژو مخه نیوله چې د دوی به په کې ګټې نه وي.

د امریکا حکومت چې نه غوښتل د افغانستان خلک پرمختګ وکړي. نو د حکومت واګې یې د همدغسې غلامو څېرو په لاس کې ورکولې. دوی ته یې د فساد د روازې پرانیستې پرېښودې.

که به واکمن د دوی د لرې کولو زیار ایسته بیا به ورته رابرګ شو چې

Ketabton.com - The Digital Library



دلته د بشر حقوق تر پښو لاندې کېږي دلته ژبني، سمتي او قومي تعصبات دي دلته اقوامو ته د ګډون اجازه نشته او داسې نور.

بيا يې دړګه کوله چې دا مرستې او هغه مرستې دربانديې درومه.

له يوې خوا نه خپله د امريکا حکومت له غلو او ډاکه مارانو ډک دی له بله پلوه دلته په افغانستان کې هم داسې خېټور چې هغوی په ژوند کې په يوه مړی ډوډۍ ماړه نه وه. اوس يې د پيسو بوجۍ وليدلې او ورسره واک لوکس حکومتي موټرې. بنګلې سواداګريز مارکېټونه په واک وه نو بيا دوی د خپلې ټولنې ټول ارزښتونه له لاسه ورکړه. دې خوا يې مخه کړه په همدې توګه په حکومت کې ورځ تر ورځې فساد په خورېد و وه.

کله به چې يوه پروژه په کوم ځای کې پيل کېده د هغه سيمې واکمن چې هر بد معاش به وه که به هغه اجازه ورکوله نو هغه پروژه پيل کېده او که به د هغه اجازه نه وه د پروژې کار به په ټپه ودرېده.

د دې بد معاشانو اجازه له هرې پروژې نه د لکونو روپيو رشوت اخستل وه.

د بېلګې په توګه که به په کوم ولايت کې د کوم سرک کار پيل کېده نو د هغه اجازه به له هغه بد معاش نه اخيستل کېده چې د سيمې واکمن به وه.

هلته له والي، قومندان د امنيې، ولسوال نه پرته دا د جهادي قومندان په نوم بد معاشان وه ټول واک به يې په لاس کې وه. دوی به حکومت نه هم باج اخيسته ځکه دوی د يوې استخباراتي کړی سره اړيکه وه. او همغه هېواد به يې ملاتړ کاوه.

په حقيقت کې اشرف غني او کرزی هسې ځېرې وې چې په کرسی

ketabton.com - The Digital Library



ناستې وي.

نور د امریکا د غلامانو واک او اختیار وه. بیا دې هر یوه بد معاش په هره سیمه کې یو وړوکی بد معاش درلوده چې هغه به له ده نه هم بدتر وه.

دا یو حقیقت دی چې له صاحب نه سپی ډېر بد وي. په دې توگه د حکومت کار او اختیار ټول د امریکې په خوښه وه.

خو د تعجب وړ خبره دا دی چې کله به څه پړه راغله بیا به نو د امریکې غلام کرزی او اشرف غني شو. دوی به بیا سپین چرگان شوه. دوی که په رښا ورځ لس کسه هم مړه کول پروا یې نه وه خو چې کله به یو انفجار چېرې وشو بیا به د هېواد پالنې په دروغجن اور داسې سوزېدل ته به وایې چې همدا اوس له صلیبیانو سره له جگړې راگرځېدلی. د حکومت حالات هغسې روان وه. دا خلک یوازې په دې نه قانع کېدل چې دوی دومره واک لرې بلکې د وی د ډېر واک او ډېرو پیسو غوښتونکي وه.

دا خلک چې له پېړیو پېړیو راهیسې په دې ارمان دي چې یو لوی خراسان جوړ کړې. دغه تجزیه غوښتونکې ډله چې تل یې دا زیار ایستلی تر څو افغانستان په دوه ټوټو وویشي خو دا ارمان یې نه دی لا پوره شوی او نه به پوره شي.

دوی په دې مانا چې د موږه اقلیتونو حقوق تل تر پښو لاندې شوې او په افغانستان کې همدا یوه ډله تل حاکمه دی د خپلو حقوقو د لاس ته راوړو لپاره مبارزه کوي.

مگر په دې خبره تل سترگې پټوي چې د ارگ واکمن تل همدوی دي.

په حقیقت کې د اکثریتو حقوقو د همدوی له خوا نه تر پښو لاندې

ketabton.com - The Digital Library



شوی.

لکه مخکې مې چې وویل په ارگ کې تل دوی واکمن دي. دا په دې مانا چې که واکمن پښتون وي نو د هغه ښځه به ارو مرو پارسي ژبې وي. د هغوی د کور ژبه به هم پارسي وي.

دا واکمن هم په خپله ژبه نه پوهېږي بلکې کور کې پارسي وويل کېږي. حکومتي چاري به په پارسي ليک دود ځرخي. دوی خپله ژبه د پرمختگ ژبه بولي .مگر پښتو ته وروسته پاتې ژبه وايي. اداري کارونه په پارسي پر مخ بيول کېږي. خو کله چې پره راشي بيا پښتانه ملامت شي. کله چې د آزادی او خپلواکۍ خبره شي بيا جگړه د پښتون په اوږو بار شي. خو کله چې اداري خبره شي بيا همدوی وي. موږ د دې خبرې د ثبوت لپاره ډېرې ښې او ژوندۍ بېلگې لرو.

د ظاهرشاه په څلويښت کلنۍ دوره کې د حکومت واک ټول د همدوی په لاس وه خپله ظاهرشاه په يوه خبره پښتو هم نه پوهيده. د ده ښځه هم پارسي ژبه وه. کورنۍ ژبه يې پارسي وه. خپل او خپلوان يې ټول پارسي ژبي وه. خپلو زامنو ته يې هم پارسي ژبې ښځې کړې وې. خپلې لورگانې يې هم پارسي ژبو ته ورکړې وې. تر هغې چې په واک وه همدا خلک ترې تاو وه. په ارگ کې د همدوی غمبور وه. له پهره داره نيولې تر اشپزه ټول همدوی وه. د کورونو د صفايۍ کار هم د همدوی په واک کې وه. په حکومتي چارو کې هم ټول اختيارات د همدوی وه.

مگر کله چې ظاهرشاه له مينځه لاړه بيا همدې خلکو ته پښتون شو.ټوله پړه د همده په غاړه شوه.

ketabton.com - The Digital Library



هغه ظاهرشاه چې په ژوند کې يې يوه خبره پښتو هم نه وه کړې. همده به پښتنو ته وروسته پاتې خلک ويل. ټول عمر يې د پاړسي په خدمت کې تېر کړ. کله چې له واک کوز شو بيا پښتنو ته منسوب شو.

که پوهنتونونه وه که مکاتب وه که نورې د زده کړو اداري وې دا ټول د پاړسي ژبو په سيمه کې وې. پښتنو ته يوازې دومره ويل کېدل چې خان او سردار. د تېمورشاه دراني له وخته تر اوسه په قصدي توګه پښتانه په جهالت ناپوهی او فرهنګ ساينس او تکنالوجي نه لرې ساتل شوي.

که به يوه ځوان په خپله سيمه کې په خپله مورنی ژبه زده کړه کوله خو چې کله به لوړو زده کړو لپاره کابل ته راغی دلته به هم زده کړې په پاړسي وې او په کوځه او بازار کې هم پاړسي ژبي وه. نو نوموړې به حيران شو چې څه وکړي. ترخنګ به بيا همدغو پاړسي ژبو هغه ځوان د رشخند او خندا ګاڼه ځکه چې پاړسو به يې نه وه زده.

د پښتنو حقوق تل تر پښو لاندې شوې. دوی له علم نه لرې ساتل شوي. زيار ايستل شوې چې پښتانه له ښارونو لرې چېرې په غرو او دښتو کې ژوند تېر کړې. د پښتانه لپاره کوتک او رمه په برخه وه. چې دا کار په قصد سره د استعماري ځواکونو په واسطه د همدغه بې کفايته زمامدارانو په لاس تر سره کېده. پښتانه د نابودی کندې ته تېل وهل شوې.

سره له دې چې دومره ظلم او ناروا د پښتنو په حق کې همدغه بې کفايته او خان پلورونکو مشرانو کړي. بيا هم د نورو قامونو په نظر ملامت همدغه پښتانه وه.

د استعماري ځواکونو لخوا پښتانه تل د جګړې لپاره بې علمه او ناپوه

ketabton.com - The Digital Library



ساتل کېدل. تر څو د اړتیا په وخت کې له دوی نه کار واخیستل شي.

پښتانه الله جل جلاله فطرتاً جګړه مار قوم پیدا کړی. مګر دا د مشرانو کار دی چې د دوی له دې عادت نه په ښه توګه او مثبته توګه کار واخستل شي.

ځکه تل استعماري هیوادونه زیار وباسي تر څو دوی له دې خدای ورکړي استعداد نه په خپله نفعه کار واخلي دوی خو د نړي هر استعماري ځواک په ګونډو کړی مګر خپله تل په تیارو کې اوسېدلي.

بله لویه بدبختي د پښتو دا دی چې کله یو مشر پیدا شي او د پښتنو په اوږو واک ته ورسي او د ارګ په مزو سر شي بیا هغه وخت یې هم پښتو هېره شي او هم پښتانه. خو کله یې چې زوال راشي بیا یې پښتانه په یاد شي. له هغې وروسته بیا د پښتو او د پښتنو ته د سترو خطرونو خبرې کوي. بیا جګه شمله وتړي کلي په کلي ګرځي له مشرانو سره مجلسونو او مرکې کوي. بیا کلک خواخوږی د پښتنو شي.

زموږ زمامدرانو تل د انګرېزانو سیاست مخکې بیولی. (نفاق واچوه او حکومت وکړه) د همدې فورمولي پر اساس یې تل د افغان قومونو ته دا په غوږ کې ایښي چې د تاسو حق تل پښتنو خوړلي. په داسې حال کې چې د پښتنو حقوقو تل خوړل شوي.

هغه استعدادونه چې په پښتنو کې شته هغه به په نورو قومونو کې ډېر کم په سترګو ولیدل شي مګر همدغه استعدادونه د غرونو په درو او دښتو کې ورک شوي.

د اشرف غني د حکومت پاي ورځ تر ورځې رسېدې. فساد خپل اخري

ketabton.com - The Digital Library



مرحلې ته رسېدلی وه. غلا، چور، چپاو، رشوت دا ورځنی کار او بار ګرځېدلی وه.

سود به په بانکونو کې برالا خوړل کېده. آن تر دې چې سود ته یې حرام نه ویل. په بانکونو کې سودي نظام ښه برالا روان وه. ټول بانکونه دا که شخصي وه او که دولتي په سود اخته وه. ټول کار بار یې په سود روان کړی وه. د دې په راس کې ټول همدغه حکومتي چارواکي وه هغه چې لکه کټمل په شان پړسېدلي وه. بیایې هم همدا کار وه چې پیدا کړم.

خدای (ج) او رسول الله (ص) یې هیر کړي وه. دوی ته یوازې د پیسو پیدا کېدل هغه هم چې په هره توګه وی مهم وه نور ورته هېڅ هم د اهمیت وړ نه وه. سودی نظام دا د یهودو د اقتصاد یو اړین ښاخ جوړوي.

امریکا او روپایي هېوادونه چې څومره د سرمایه دارې اوج ته رسېدلي دا ټول د د همدې سود له برکته. هغوی ته د دین دا خبره هېڅ اهمیت نه لري چې سود حرام دی. کفري هېوادونه د اقتصاد د پیاوړتیا له هر ممکنه لارې څخه کار اخلي. ځکه د هغوی دا عقیده چې د ټولنې پرمختیا یوازې د زور له لارې نه کېږي.

بلکې داقتصاد له لارې شونی دی. همدغه اقتصاد دی چې انسان جوړوي او همدغه انسان بیا د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره هلې ځلې کوي.

**د اسلام اقتصادي نظام ځانګړنې:**

اسلامي اقتصاد له څو خواوونه پیاوړی کېږي.

لومړی : زکات:

دا هغه الهي حکم دی چې یو شتمن مسلمان به خپل د سرمایې یوه

ټاکل شوې برخه په غریبانو او مسکینانو ویشي. ترڅو په ټولنه کې یو اعتدال رامینځ شي. د غریبانو د ژوند ستونزې په دې توګه حل شي.

دویم: عشر:

دا هم د الله (ج) حکم دی چې یو ځمکه وال به خپل د ځمکو د حاصلاتو لسمه برخه خوارانو او غریبانو ته ورکوي. تر څو په ټولنه کې د خلکو ستونزې ور حل شي.

دریم: مضاربت:

مضاربت په سوادګري کار او بار کې ور څخه کار اخستل کېږي.

د بېلګې په توګه:

یوه مسلمان دی د سوداګرۍ په کار او بار ښه پوهېږي خو شته ورسره نشته چې دا کار مخکې پوځي. مګر یو بل مسلمان دی چې ډېر شتمن دی خو یا وخت نه لري په نورو کارونو بوخت دی او یا یې نه شي کولی. شتمن خپلې پیسې دې مسلمان ته ورکوي تر څو په هغه کار او بار وکړي. د ګټې په صورت له ګټل شوو پیسو نه د کار خرخ وباسي نورې پاتې پیسې په مساوي توګه په ځپل مینځ کې سره وېشي. د شتمن پیسې او غریب په خپله.

محصولات:

دا له هغو سوداګرو نه اخیستل کېږي چې سوداګري توکي له بهر نه هېواد ته او له هېواد نه بهر ته وړي په ګمرکاتو کې د حکومت لخوا یو څه پیسې اخیستل کې کېږي.

مالیه:

ketabton.com - The Digital Library



دا د هیواد په هر سیستم کې که سوداګریز مارکېټونه وي که ځمکې وي سوداګریز کار او بار وي په مناسبه اندازه مالیه اخستل کېږي. چې دغه راټولې شوې پیسې په غریبانو او نا داراه خلکو ویشل کېږي چې له دې سره په ټولنه کې فقراو بې وسي له مینځه ځي.

مګر په کفري یا یهودي نظامونو کې یوازې شتمن نور هم پسې شتمن کې او غریب خلک هغسې د یوې مړۍ ډوډۍ لپاره او د ژوندي پاتې کېدو لپاره هلې ځلې کوي.

هغه وخت چې د ناتو هېوادونه د امریکې په مشرۍ افغانستان ته راغلل له همغې ورځې نه یې د دې ملت ټول ارزښتونه له مینځه ویوړل. دلته د پیړیو پیړیو را روان اسلامي قوانین بېکاره وبلل.

هغه ښځې چې د اسلام په سپیڅلي جامه کې په عزت سره په کورونو کې په کار بوختې او د خپل د بچو او خاوند خدمت به یې کاوه. د ښځو د حقوقو په بهانه یې هغوی له کوره راوویستې. په بازارونو او دفترونو کې یې د کار په بهانه هغه کارونه پرې وکړه چې د هېڅ دین پیروان به یې هم ونه مني.

د کرزي او اشرف غني د حکومت د فترونه د لویو فسادونو مرکز وه.

د اشرف غني په وخت کې ارګ د لویو فسادونو مرکز وه.

هلته چې د یوه ملت د عزت د شملې د رپېدو ځای وه هلته د ملت ناموس تر پښو لاندې کېده. ارګ د لویو مفسدینو مرکز ګرځېدلی وه. په هغه حالت کې چې له یوې خوا حکومت له فساده پړسېدلی وه له بله پلوه د نړېوالو په نظر کې د دنیا د اول درجه مفسد هیواد په توګه پېژندل شوی وه.

ketabton.com - The Digital Library



همدارنګه هغه مفسدې څېرې چې امریکا ورسره د خپلې مبارزې له پیل نه څه ژمنې کړې وې او دا یې هم ورسره ویلې وه چې موږه به پرته له تاسو په هر حالت بل چاته واک نه ورکوو. تل به تاسې په واک کې استئ. کله چې امریکې د دې خلکو له اصلاح نه پاتې راغی نو د دوی د ورکېدو په تکل شو مګر نه پوهېده چې څنګه؟

په دغه وخت کې د امریکې لپاره همدا یوه لاره پاتې شوه چې دا خلک د طالبانو په لاس له ډګر وباسي. نو په دوحه کې یې له طالبانو سره خبرې پیل کړې. چې له یوه اوږده ځنډ څخه وروسته یې د دې خلکو دله مینځه وړلو او د حکومت د تسلیمېدو یې له طالبانو سره پروګرام جوړ کړ. او حکومت یې په څو ورځو کې پرته له کوم مقاومت نه طالبانو ته ور وسپاره.

دنیا وال په خپلو مرستو کې ټکني شوي وه. دا زیار یې ایسته چې غني څنګه له واکه یو خوا کړي.که په ښکاره سره یې د اشرف غني د حکومت مخالفت کاوه دا چا ورسره نه منله ځکه دی د یوه دروغجنو ټاکنو په جنجالي پایله رئیس جمهور پېژندل شوی وه.

که یې په حکومت کې دننه مخالفو ځواکونو سره په دې هکله مرسته کوله په هغوی یې اتبار نه درلوده. ځکه هغې ډلې ټپلې تل په نظریاتي توګه له روس سره ولاړ وه او ولاړ دي. نو ځکه امریکې نه شو کولی په دوی باور وکړي. له بله پلوه اشرف غني بیا هم څه ناڅه د خلکو په زړونو کې ځای درلوده. ده د خپلو مخالفینو په ناتوان کېدو کې ډېرې هلې ځلې کړې. او څه ناڅه یې ناتوانه کړي هم وه اشرف غني تر کرزي بیا هم، څه ښه وه.

کرزی خو د خپل د حکومت په دوره کې د یوې ولسوالۍ پنجشیر د څو

ketabton.com - The Digital Library



تنو ګیره کې وه. ده ډېر کارونه په خپل سر نه شو کولی. او مخالفین بیا لکه ښاماران داسې وه. کرزی تر ډېره له دې مخالفه ځواکونو وېرېده. مګر اشرف غنی بیا داسې نه وه یو څه ناڅه مخالفین یې تر کنترول لاندې راوستي وه.

له بله پلوه یې ګاونډي هېوادونه هم په خپلو شومو پروګرامونو سره مات کړي وه. په ایران یې اوبه ودرولې چې د دوه بندونو په جوړېدو سره یې د ایران د دوه ایالتونو کرهڼه یې تر اغېزې لاندې راوسته.

د پاکستان نه چې کوم سوداګریزه مواد راتله چې خبره په سلونو میلیونه ته رسېده او د افغانستان عمده واردات یې جوړول. په دننه هېواد کې د شرکتونو او فابریکو په جوړېدو دغه وارداتو ته سخت تاوان ورسېده. د سوداګرو د اطاقو د یوه راپور په بنسټ پاکستان په دې کار کې د کال تر درې ملیارده دالر تاواني کېده. د پاکستان سوداګرو د افغانستان لپاره د تولید ځانګړې فابرېکې درلودې چې د هغو له تولیداتو څخه به په دننه هېواد کې ګټه نه اخستل کېده. ځکه د تولیداتو د تولید اصلیت په خپله هېواد کې لاس ته راتله. نو له همدې کبله د فابرېکو د مالکانو سره په تفاهم کې داسې پرېکړه اشرف غني کړې وه هغه تولیدات چې په دننه هېواد کې لاس راځي باید له بهره رانه وړل شي. چې له دې سره د پاکستان صنعت کارانو ته سخت تاوان ورسېده.

دې دوه ګاونډیو هېوادونو په زړه خوړلې وه که چېرې اشرف غني همداسې پاتې شي نو کېدای شي زموږه هېوادونو ته به سخت تاوان ورسي.

له بله پلوه امریکا هم په دې ښه پوهېده چې د اشرف غني محبوبیت ورځ تر بلې په دې هېواد کې زیاتېږي که چېرته همداسې پاتې شي کېدای شي

ketabton.com - The Digital Library



له طالبانو سره د ولس په مرسته یو ګډ حکومت جوړ کړي چې دا به بیا د امریکې لپاره یو درد سر شي. همدارنګه پاکستان د امریکې ډېر پخوانی ستراتېژیک ملګری دی او تل یې د دې ملک ګټې خوندي ساتلي دي او مرسته یې ورسره کړې.

پاکستان چې د انګلیس، امریکې او فرانسې د فکر ګډه زېږنده دی تر څو په دغه ساحه کې اسلامي هېوادونه په هر وخت او هر زمان کې د خپل کنټرول لاندې راوستی شي. او هغه غلط نظریات چې کفري نړۍ یې د اسلامي هېوادونو په هکله لري د داسې تقلبي اسلامي هېوادونو په واسطه په رېښتیاو بدل کړي. پاکستان په حقیقت کې د ترهګرۍ د زېږېدو ځای دی. هلته د اسلامي مدرسو زیادت او بیا په حېرانونکي توګه د مصارف برابرول تر پوښتنې لاندې ده. په ښکاره سره یې مصارف د چندو له لارو ویل کېږي. خو په هغه اندازه چنده او د دوی مصارف دا یو رنګ په تضاد کې دي. له ځینو مدرسو پرته نورې اکثره مدرسې د پاکستان د استخباراتي شبکې ای، ایس، ای له خوا د ځانګړو موخو لپاره تمویلېږي. دا چې پاکستان په اکثره هېوادونو کې شورشیان روزي دا د پاکستان له توان پورته خبره دی رېښتېنې خبره دا دی چې د دغو مدرسو تمویل ټول د انګلستان، امریکې او فرانسې لخوا د خپلو ځانګړو اهدافو لپاره تر سره کېږي.

دلته له دې تبصرې څخه زما موخه دا ده چې د افغانستان په پېښو کې پاکستان د خپلو بادارانو په اشاره لوی لاس لري. دا هم شونی دی چې پاکستان خپلو بادارانو ته لمن غوړولي تر څو په هره ممکنه توګه چې وي د اشرف غني حکومت مات کړي. تر څو دوی د انزوا کېدو نه بچ شي.

ketabton.com - The Digital Library



امریکا هم ولیدل چې د کرزي او اشرف غني حکومتونه د دې توان نه لري چې دوی په آزاده توګه خپلې پروژې تر سره کړي. امریکې دې خبرې ته له ډېر وخته پام وه چې هغه پیسې چې د پروژو د تطبیق لپاره وروړلی کېدل د پروژو له پای ته رسېدو به بیا وختي خلاصې وي. چې امریکه هم دې خبرې ته په حیرت کې وه. له همدې کبله یې په خپلو مرستو کې کمی راوستو.

د وخت په تېرېدو سره امریکه هم دې پرېکړې ته ورسېده چې باید د افغانستان په قیادت کې چې په هره ممکنه وسېله وي تغیر راوړل شي. ځکه په شته قیادت کې د دوی موخې لاس ته نه ورتلې. د اشرف غني حکومت دومره کولی شوه چې په افغانانو کې بې دیني نښه خوره کړي. ځکه له ده سره په خوا کې داسې کسان وه چې هغوی ته اسلام او انسانیت هېڅ ارزښت نه درلوده. یوازې یې په دې سوچ کاوه چې څنګه ځان او خپل خپلوان ماړه کړه. د بېلګې په توګه امرالله صالح ته اسلام اصلا هېڅ مانا نه درلوده. هغه چې له یوې ټېټې طبقې نه را پورته شوی وه. چې هېڅکله یې د هوسایني ژوند لېدلی نه وه. یو ځل یې له دومره دولت او پیسو سره سر شو چې که په خوب کې یې لیدلی وی نو ځو ورځې به خوښ وه.

هغه یوازې په دې سوچ او فکر کاوه چې څنګه ځان او خپل خپلوان ماړه کړي. دوی نور له پیسو داسې ړېسېدلي وه چې نور یې د ټولېدو ځای نه درلوده. خو بیا یې هم نفس دومره لوی وه چې باید راټولي یې کړو. چې بېلګه یې په دې نېژدو کې خلکو د رسنیو له لارې ولیده.

د اشرف غني په حکومت کې داسې کسانو ګډون درلوده چې د کرزي د

ketabton.com - The Digital Library



حکومت زېږنده وه او غني ته په میراث کې پاتې وه. دا هغه ځان پلوري او وطن پلوري خلک وه چې وطن ورته یوازې خپله ولسوالی او خپل کور ښکارېده نه ټول افغانستان. دوی چې خپل ایمان د پیسو په مقابل کې پلورلی وه نور هیڅ څیز ورته مانا نه درلوده. اشرف غني د داسې یوې کړۍ لخوا محاصره شوی وه نو ځکه یې له هېواده د فساد ځاله جوړه کړې وه.

له بله پلوه چې نړۍ هم د افغانستان په هکله خپل دریځ درلوده نو هریوه دا غوښتل خپل اهداف دلته پلي کړي. مګر هغوی هم د ډېر فساد له کبله نه شو کولی دلته هغه پروژې چې هم دوی ته او هم افغانستان ته د ډېر ارزښت لري پلې یې کړې. د بېلګې په توګه د ټاپي پروژه او کاسا ۱۰۰۰ یکهزار پروژه چې د افغانستان لپاره له ډېرې ګټې خالي نه دی. مګر د دغو پرژو پلي کول د اشرف غني په حکومت کې د فساد له کبله ناشونی وه. په هغه لاره چې دا دوه پروژې پلې کېدې په زیاتره برخه یې د بدماشانو واکمني وه هغوی تر څه د مخه خپل کلنګ غوښته چې دا کار سره د دې پروژو کار ټکنی کېده.

په افغانستان کې د امریکایانو له راتګ سره سم دې بد ماشومانو ډېره وده وکړه. د حکومت په هره برخه کې او د ولس په هره سیمه کې یې واکمني وه. نو ځکه د داسې پروژو د پلي کولو لپاره د دې بد ماشانو راضي کول اړین وه. چې له دې کار سره دې پروژو ته ډېر اقتصادي تاوان رسېده.

دنیا او په سر کې امریکه په دې ښه پوهېده چې د داسې پروژو کار پیلول د اشرف غني په دغه فاسد نظام کې چې شا او خواته یې ټول لنډغر راټول شوي ستونزمن څه چې ناشونی دی. د همدغو او داسې نورو استعماري

ketabton.com - The Digital Library



پروژو د پلي کېدو لپاره دې ته اړتيا وه چې دا نظام بايد نور ختم شي. ځکه د لته له يوې خوا د استعمار پلانونه نه پلې کېده او له بلې خوا د هغو ګاونډيو نتواتې چې امريکې او انګلستان ته يې کولې.

استعماري قوتونه تل د لاس لاندې هېوادو کې داسې حاکمان غواړي چې د دوی د هر امر منونکي وي. د کرزي او اشرف غني حکومتونه چې تر ځنګ يې د شمال ټلوالي موازي حکومت وه تر ډېره حده په دغه فرمول برابر وه. مګر تر کرزي بيا اشرف غني يو څه آزاد وه. نو ځکه امريکې دا زيار ايسته چې دا حکومت نور ختم کړي.

له بله پلوه د امريکې مشران په دننه کې د ولس د سخت فشار لاندې وه. هغوی به له حکومت دا پوښتنه کوله چې د کومې موخې لپاره زموږه ځوانان په لکونو کيلو متره لرې يوه هېواد کې مري چې زموږه د ملک سره له يوې خوا کوم تړاو نه لري؟

بله پوښتنه به يې دا وه چې زموږه په سختيو ګټل شوې ماليې ولې په هغه هېواد کې مصرف شي چې موږه سره هېڅ ستراتېژيک تړون نه لري؟

که به د امريکې مشرانو دا ويل چې موږه هلته د القاعدې او داعش مشرانو پسې ګرځو. نو د امريکې د ولس ځواب به دا وه چې اسامه خو په پاکستان کې مړ شو نو بيا تاسې ولې داسې دعوې کوې.

دا هم لامل کېدای شي چې امريکې له دې هېواده پښې سپکې کولې.

اوس به راشو دې ته چې د اشرف غني هغه حکومت چې درې نيم سوه زره وسله پوځ چې په کې اردو، پوليسو، امنيت، او خپل سره ملېشې يې درلودې مګر بيا هم د امريکې او ناتو د پوځونو په شتون کې په څو ورځو کې

ketabton.com - The Digital Library



په کتلې دې پېښو ته د نړۍ لوی شاته هم نه داسې ماته وخوړه چې بیایې سیاسي مبصرین هم حیران دي او کېدای شي چې دا بدلون به لا تر اوسه په نړۍ کې نه وي تکرار شوی. دا هم د نړۍ له عجائبو نه شمېرل کېږي چې هم یې د نړۍ ستر ځواک چې ځان یې بې سیاله باله او هم د ناټو هغه ستر قدرت او ځواک چې نورې نړۍ سره ډغرې وهلې بیا په یوځو ورځو کې داسې ماته خورې چې نړې یې حیرانه کړه. په دې کې د ډېرو خبرو شونتیا شته.

کله چې په دوحه کې د ټرمپ د ریاست جمهوري په دوره کې د طالبانو او امریکا ترمینځ مخامخ خبرې پیل شوې امریکا په حقیقت کې ومنله چې طالبان یو ځواک دی. د دوی په رسمیت پېژندلو سره په کابل کې ناست اداره چیان ورخطا شوه په نړۍ کې یې ډندوره جوړه کړه چې طالبان له امریکا سره خبرې کوي او له موږه سره چې افغانان او مسلمانان یو نه جرګه کېږي. په دې خبره خو نړۍ هم پوهېده چې د کابل د حکومت حیثیت د یوه مزدور دی چې هرکله یې بادار وغواړي له کرسۍ یې بېرته کولی شي.

طالبانو ته هم د دې خبرې ښه ثبوتونه په لاس ورغلي وه چې دا اداره هیڅ اهمیت نه لري نو له داسې بې واکه ادارې سره ناست یا جرګه کېدل څه پکار.

موده وشوه د امریکا په اداره کې هم بدلون راغی. ټول ټاکنې جو بایډن وګټلې. ده د خپل د کمپاین په مرحله دا خبره په تکرار سره کوله چې زه د امریکې رئیس جمهور شوم نو له افغانستان څخه به خپل ټول پوځونه را وباسم. ده چې کله دا ټاکنې وګټلې نو د افغانستان په مسئله کې یې دا

ketabton.com - The Digital Library



وویل چې نور افغانستان څخه باید خپل پوځونه راوباسوو. دا هغه جګړه دی چې نور زموږه لپاره هېڅ ګټه نلري پرته له تاوانه. د ده دا وینا د کابل واکمن نور هم ورخطا کړه په دې ښه وپوهېد ل چې نور زموږ پائېدل ناشونی دی.

په ځانګري توګه د شمال ټلوالي واکمن چې هغوی د واک ډېر مین وه. دوی چې په هره ممکنه توګه وه زیار یې ایسته چې په واک کې پاتې شي.

طالبانو ته چې د کابل د حکومت کمزوری مالومې وې دا ورته جوته شوې وه چې د امریکې د پوځونو له وتلو سره دوی څو ورځې مقاومت هم نه شي کولی. نو دوی هم لاس په کار شوه.

دا وخت په افغانستان کې د واک په سر یو رنګه مرموزه سیالی روانه وه.

اشرف غني په دې لټه کې وه چې په هره ممکنه توګه کېدای شي زه باید خپل واک وساتم. د همدې لپاره یې ولایتونو ته سفرونه پیل کړه او خلک یې د جمهوریت په پلوی سره هڅول. له بله پلوه د شمال ټلوالی خپلې هلې ځلې تندې کړې ترڅو خپلې بقا ته یوه لاره پیدا کړي.

دوی په دې خبره یقینې شوه چې نور موږه د امریکایانو په درد نه لګېږو نو ښکاره خبره ده چې زموږه له ځایه به کوم بل حکومت راولي. دوی هم دا زیار ایسته چې په کوم خواته لاره سیده کړي چې تر څو خپل واک وساتي.

په دغه وخت کې افغانستان د سیاستونو ډګر شو. امریکا ځان ایسته، نورو واک ته ېنګاوه. په یوه وخت کې څو لوبې روانې وې. یوازې افغانان وه چې د ننداري په حال کې په یوه ناموسنه اور کې سوزېدل.

لوبه ورځ تر ورځې ګرمېده. ورو رو په هیواد کې یو رنګه د واک تشه رامینځ ته کېده.

ketabton.com - The Digital Library



عبدالرشید دوستم چې د جنبش د ګوند یو ځواکمن مشر وه. دا په پیل کې د روسانو لخوا د ګلیم جم ملېشو په نوم چې اکثریت ازبک ملېشه وه د نجیب د حکومت په پلوی رامینځ ته شوه.

د ده ترځنګ د مزار بې تاجه واکمن عطا محمد نور چې د طالبانو د ماتې په وخت یې مزار ونیوه د یوه ځواکمن مشر په توګه یې خپل واک په مزار ټینګ کړ په هغه وخت کې د ده سیال هېڅوک هم نه وه. د حیرتانو ګمرګ او نور عایداتي مراکز یې په واک کې وه. په لږ وخت کې یو ځواکمن مشر وپېژندل شو.

دا دواړه د واک او خپلو شتمنیو د ساتلو لپاره سره یو شوه. دوی په شمال کې د کابل حکومت له شرکته پرته په یوه داسې نقشه سره سلا شوه چې د هیواد د تباهۍ لامل کېدې شوه. دوی په پټه له هغو ګوندونو سره چې د چپي نظریاتو خاوندان وه اړیکې ټینګې کړې. هغه ګوندونه هم د خپل پلوي کړه. مګر په همدغه وخت کې یې د کابل له حکومت له سره هم خپلې اړیکې ساتلې دوی په یوه وخت کې یوه لوبغاړې په شان دوه لوبې مخکې بیولې. دوی غوښتل د تېرې تجربې په رڼا کې طالبانو ته داسې دام په شمال کې کېږدي چې بیا هېڅوخت سر پورته نکړی شي. لکه په په کال ۱۳۷٦ ل، ل کې چې د یوه سازش له لارې جنرال مالک له طالبانو سره جوړ جاړی وکړ. د مزار ولایت او څو نور ولایتونه یې طالبانو ته وسپارل. ورسره یې اسماعیل خان چې د جمعیت د ګوند پورې اړوند د هرات د ولایت قومندان وه. د هرات د تسلیمېدو نه پس له خپلو کسانو سره مزار ته راغلی وه ترڅو له طالبانو سره وجنګېږي. جنرال مالک هغه له خپلو کسانو سره

ketabton.com - The Digital Library



ونیوه طالبانو ته یې وسپاره. له دې سره د طالبانو په جنرال مالک نور هم اتبار زیات شو. د ځینو راپوړونو پر بنسټ داسې ویل کېدل چې د پاکستان قونسلګري په مزار کې هم په دې ایتلاف کې لاس درلوده.

ځینو مبصرینو به په هغه وخت کې داسې تبصري کولي چې د پاکستان حکومت غوښتل طالبانو ته یوه کاري ضربه ورکړي ترڅو دوی ته اړ وي. او دوی پرې خپل اهداف مخکې بوځي. همغه وه چې ازبک ملېشې د هزاره ګانو له ځینو ګوندونو سره په ګډه په دې توطیئ کې لاس درلوده. کله چې طالبان ښه ډاډه شوه د یوې جوړې شوې نقشې له مخې د یوې غونډې په ترخ کې دطالبانو مشران لکه احسان الله احسان د افغانستان بانك رئیس او ملا عبدالرزاق له خپلو افرادو سره ونیول نور د جنبش او حزب وحدت د کسانو لخوا د طالبانو په ضد پاځون وشو. په حقیقت کې دا پاځون د طالب په ضد نه بلکې د پښتنو په ضد وه. ځکه هغه طالبانو چې د نورو قومونو پورې اړوند وه هغه په همغه پیل کې پرېښودل شوه. یوازې د طالبانو تر لسو زرو زیات کسان د جنرال مالک او د وحدت د ګوند د ټوپکمارانو په لاس د لیلي په دښته شهیدان شوه.

چې بیا وروسته د مزار د دوهم ځل ماتې په وخت یې د دغو طالبانو غچ له ازبک ملېشو او د وحدت د ګوند له کسانو څخه واخیسته. چې په هغه وخت کې یې د جګړې عمومي قومندان ملا داد الله وه.

د شمال ټلوالې داسې یوه خطرناکه لوبه راجوړه کړه چې افغانستان یې د تباهۍ کندې ته ټېل واهه. د ځینو راپوړونو پربنسټ داسې ویل کېدل چې دوستم ، عطامحمد، او هزاره مشران په دې سره سلا شوي وه چې د ځان د

ketabton.com - The Digital Library



حاكميت لپاره بايد يوه جغرافيه جوړه شي.له دې سره به هم د اسلامپالو قوت ناتوانه شي اوهم به پښتانه سياستمدران له زوره ولوېږي.

دې ډلو په پټه سره له گاونډيو هېوادونو سره هم په دې موضوع كې بحث وكړ. د اكثره هېوادونو ملاتړ يې هم تر لاسه كړی وه. له دې كار سره ځينو هېوادونه ډېر خوښ هم وه. دوی غوښتل افغانستان دوه نيمه كړي چې د لوی خراسان ارمان پوره كړي. د دې پلان د جوړېدو په هكله يوه مشر ازبک چې د نوم د خپرېدو نه يې ډېره بښنه وغوښته داسې كيسه راته وكړه چې غوني مې ورته ځېږه شوه. دا داسې يو خطرناک پلان وه چې د امريكې جاسوسي شبكو په كې مستقيماً لاس درلوده. په دې توگه امريكې غوښتل له يو خوا نه خپل پوځونه امانت وباسي او له بله پلوه به دنيا ته داوښيې چې زموږه راتگ دې ملک ډېر اړين وه. ورسره به د طالبانو دا قوي ځواک له مينځه لاړشي چې په راتلونكي كې به دا دوی ته كوم خطر نه وي.

د شمال ټولوالې د امريكې، پاكستان او تاجكستان په گډون؛ چې په دغه وخت كې يې مشري عطا محمد نور كوله داسې پلان جوړ كړ چې د طالبانو له مشرانو سره به د پا كستان، او تاجكستان د نماينده گانو په گډون اړيكه نيسې د شمال د ولايتونو د تسليمېدو به ورسره خبره كوي. كله چې طالبان لكه د كال ١٣٧٦ كال ولايتونو ته را دننه شول په يو ځل به په دوی په ټولو ولايتونو كې پاخون كېږي. ترڅو چې هغوی ځانونه سنبالوي او مرسته ورته رارسېږي د يوه عمومي پاخون په ترڅ كې به د دوی قوتونه له مينځه ويسي. ورسره سم به په ارگ كې ټاكلی شوي كسان اشرف غني له مينځه وړي. له دې سره به د واک تشه مينځ ته راشي په دغه وخت كې د دفاع د وزارت وزير

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله خان وه او د کورنیو چارو وزارت وزیر (بصیر سالنکي) چې دا دواړه وزیران د شمال ټلوالې پورې اړوند وه. د دوی ټاکل په دغسې حساس وخت کې د اشرف غني یوه ستره اشتباه وه. مگر د غني واک هم څه ناڅه کمزوری شوی وه. امریکې په زوره سره دغه کسان په دې منصبونو وټاکل شوه. چې له یوې خوا به د طالبانو زور مات شي له بله پلوه به اشرف غني له مینځه لاړشي. ورسره به دوی خپل پلان په ښه توگه سره سرته ورسوي. دوی د دې پلان د پلي کولو لپاره د جهاد له وخته لگیا وه مگر بخت ورسره یاري نه کوله. دوی په دې توگه سره غوښتل افغانستان دوه ټوټې کړي.

هغه وخت چې طالبانو حکومت په ۱۳۸۰ ل، ل کې ماته وخوړه د شمال ټلواله بې رقیبه ځواک شو. نور گوندونو دومره زور نه درلوده طالبان هم د ماتې په حالت کې وه.کابل ټول واک اول د پنجشېریانو او بیا د شمال د ټلوالې له پاتې ځواکونو سره وه. د دې گوند قومندانانو د کابل په ښار کې چور پیل کړ. چېرته چې حکومتي ځایونه یا د طالبانو شخصي ملکیتونه وه هغه یې غصب کړه. له دې سره یې د راتلونکې لپاره داسې برنامه جوړه کړه که موږه خپل د لوی خراسان کار پیل کړ چې د کابل د ښار اکثره سیمې زموږه په واک کې وي. ددې پلان دپلي کېدو لپاره یې د خپلو سیمو غرني خلک کابل ته راوستل چېرې چې حکومتي ځمکې وې هغه یې غصب کړې پارکونه نور تفریحي ځایونه یې ونیول. په دې خلکو یې په مناسبه بیه وپلورل چې په راتلونکې یې د دوی پله د کابل په ښار کې درنده وي. د خیرخانې د غرونو لمنې، د ۳۱۵ چې په دا وخت کې د د فاع او کورنیو وزارتونو اړوند ځمکې وې دا ټولې په همدې خلکو وویشل شوې.

ketabton.com - The Digital Library



د خیرخانې د کوتل د چمتلې دښته د ظاهرشاه شخصي ملکیتونه دهزار بوزو شخصي ملکیتونه دا ټولې ځمکې د مقاومت د شهیدانو په نوم د زورواکو لخوا وویشل شوې. چې پیسې یې د همدې زورواکو جیبونو ته ولوېدې. له همغه وخت نه یې په دې پلان کار پیل کړ تر څو چې دا وخت را ورسېده. د شمال ټلوالې داسې فکر کاوه چې طالبان به د همغې اوبایمې لسیزې خلک وي هغوی به په ډېرې اسانې سره په دام کې وغورزو.

مګر له دې نه ناخبره چې هغه طالب د نن ورځې له طالب سره ډېر توپیر درلوده. د پرون ورځې طالب یوازې د کابل له واکمن سره جنګېده مګر د نن ورځې طالب د ناتو او امریکا له درې دیرش هېوادونو سره جنګېږي.

له بلې خوا نه دا خبرونه خپرېدل چې د امریکې حکومت هغه تړون چې د وتلو لپاره یې په دوحه کې له طالب مشرانو سره کړی سرته ورسي له هغې وروسته به بیا د طالبانو او د کابل حکومت د استازو تر مینځ خبرې پیل کېږي. کله چې امریکایانو خپل تړون بشپړ کړ او د خپلو قواوو په وتلو یې پیل وکړ. د زلمي خلیل زاد په مشرۍ د حکومت او طالب مشرانو تر مینځ خبرې اترې پیل شوې. دا خبرې ډېرې سوکه روانې وې. کله به طالبانو د کابل په حکومت او کله به د کابل حکومت په طالبانو دا پړه اچوله چې د خبرو خنډ ګرځي. یو وخت داسې آوازې هم خپرې شوې چې په ارګ کې د اشرف غني او د طالب مشر ملا غني برادر ترمینځ لیدنې شوې. چې په رسنیو کې دا خبرې ډېرې خوله په خوله کېدې. خبرې روانې وې ولس ټول همدې خبرو ته په تمه وه. مګر د خبرو جزئیات نه خپرېدل. دا هر څه په مرموزه توګه پټ ساتل کېدل. د خبرو د ځنډ لاملونه چې هرڅه وه. خو د ملت په ګټه نه وه.

ketabton.com - The Digital Library



او نه ملت ورنه خبرېده. همدا څنډ وه چې د خلکو په زړونو کې یې شکونه پیدا کول.

امریکا د خپل پوځونو وتل په ډېرې چټکې سره پیل کړه. مخکې له هغې چې له کابل حکومت سره خبره شریکه کړي. ځکه خو د کابل د حکومت زمامداران د پېښو له واقعیته هېڅ نه خبرېده.

خو د کابل په حکومت کې یوه ځانګړې کړۍ وه چې ځانته پلانونه یې درلودل. دلته کارونه له څو لارو روان وه. د شمال تلوالې خپل فعالیتونه ګړندي کړ. مګر د شمال تلواله هم په دوه برخو ویشل شوې وه.

یوې برخې یې چې عبدالله یې مشرې کوله او په دغه وخت کې یو اندازه د شمال تلوالې په له نظره لوېدلی هم وه. ده غوښتل له طالبانو سره خبرې وکړي لکه د مخکې په شان په خپل ځانګړي شله توب سره په حکومت کې ځانته ځای پیدا کړي.

دویمه ډله یې همغه ډله چې د تجزیې خوبونه لېدل. دا ډله په حقیقت کې ډېره خطرنا که هم کېداي شوه. ځکه د دې ډلې سره د تاجکستان، څه ناڅه د ترکیه حکومت، ورسره د پاکستان حکومت او څه ناڅه د ایران حکومتونو مرستې کولې. لکه مخکې مو چې وویل پلان د تطبیق لپاره برابر شو. د شمال تلوالې خپل کار پیل کړ. له پلان سره سم طالبانو خپل حرکتونه پیل کړه. مګر هر یوې ډلې ځانته موخې درلودې.

داسې ویل کېدل چې د یوه بهرنې هېواد د سفیر لخوا اشرف غني ته دا خبر ورکړ شو چې د افغانستان د تجزیې کار پیل دی .

کله چې اشرف غني خبر شو دی هم لاس په کار شو. په هغه وخت

ketabton.com - The Digital Library



داسې اوازه خپره شوه چې اشرف غني د طالبانو له مشرانو سره لیدنه کړې. مگر دا اوازه د کومې آزادې او بې پرې منبع څخه تائید نه شوه او د اوازې تر حده پاتې شوه. اشرف غني یو ځل د ځینو طالب مشرانو سره په دوحه کې وغږېده او بیا داسې ویل کېدل چې طالبانو په کابل کې له اشرف غني سره لید نه وکړه. ویل کیدل چې اشرف غني او طالبانو د افغانستان د تجزیې په خبره سره بحثونه وکړه چې تر پایه یې جزئیات خپاره نه شوه.

له دغو اوازو نه وروسته اشرف غني په امنیتي چاروکې ځینو نابېره گمارنې وکړې چې د شمال د ټلوالې او ځینو لاس په کار کړیو لخوا د سختو نیوکو سره مخ شوه. په اردو او پولیسو او امینتې چارو کې لوړې چوکې هغو کسانو ته ورکړې چې د د ه د اتبار وړ وه. ځینو مبصرینو به په دغو ټاکنو ډېرې تبصرې کولې خو اصله خبره یې نه شوه کولی.

هغه وخت چې د لومړي ځل لپاره طالبانو د شبرغان ښار ته ننوتل او ټول امنیتي ارگانونه پرته له جگړې سلامي شوه له دې کار سره شکونه ډېر زیاد شوه. په دغه وخت کې اشرف غني مزار ته لاړه له دوستم او عطا محمد نور سره یې د بندو وَرونو تر شا وغږېده مگر د دې خبرو جزئیات بیاهم خپاره نه شوه. په همدغه ورځ ماسپښن مهال په مزار کې په یوه مطبوعاتي کانفرانس دوستم په ډېر ډاډ سره او په ښکاره دا خبره وکړه چې دا طالبانو ته یو دام دی چې موږه ایښي دوی لکه د تېر په شان په دې دام کې راگیر شي او د شمال له ولایتونو نه به ونه شي وتی. عطا محمد هم همداسې څرگندونې وکړې. دې خبرو سره دا شک پیدا کېده چې د افغانستان د بېلېدو خبره رېښتیا ده چې طالبان به په شمال کې وځپې ترڅو چې د کابل حکومت

ketabton.com - The Digital Library



خبرېږي نو دوی به د افغانستان د تجزیې خبره رابرسېره او په عمل کې به یې پلی کړي. مګر دلته بیا خبره بل ډول وه. دا چې طالبان هم له دې خبرې وه له اشرف غني سره یې هم په دې هکله خبرې کړې وې. نو دوی هم ورته پلان جوړ کړی وه.

هغه وخت چې د شبرغان ښار ته ننوتل اول کار یې همدا وه چې دفاعي او امنیتي ځواکونه یې له یوه سره بې وسلې کړه. هلته دفاعي ځواکونو هم جګړه نه کوله ځکه ورته ویل کېدل چې جګړه مه کوئ. بلکې خپلې وسلې ورته په ځمکه ږدئ چې همدې کار سره د دفاعي ځواکونو روحیه کمزورې کېده. پرته له جګړې تسلیمېدل. د دوستم او عطا محمد نور هغه خوبونه چې دوی غوښتل دا به په حقیقت بدل کړي. بلکې دا ورته د غم نغاره شوه. د هر ولایت د فاعي ځواکونه پرته له دې چې جګړه وکړي تسلیمېدل. او طالبان ښه په داډه زړه مخ په وړاندې روان وه. د تجزیه غوښتونکو وضعیت ورځ تر ورځې خرابېده. هغوی داسې هېڅ نه وه انګېرله. هغوی په ښه ډاډه زړه سره داسې خوبونه لیدل چې نوره خبره ختمه دی. مګر له دې نه ناخبره چې دا هره هڅه به یې اوبه یوسي.

داسې هم شونې دی چې اشرف غني ته دا هرڅه مالوم وه ځکه خوېې نابره ځینې ټاکنې په امنیتي او دفاعي چارو کې وکړي. داسې هم تبصرې کېدې هغه قوماندانان چې نوی ټاکل شوي وه هغو ته اشرف غني دا لارښوونه کړې وه چې هرکله طالبانو کوم ولایت ونیوه تاسو خپلې ټولې وسلې هغوی ته پرته له مقاومت تسلیمې کړي. ځکه چې په اوس کې د افغانستان جغرافیایې نقشې ته خطره دی. او دا لوی خطر چې د هېواد د

تباهی لامل گرځي. په همدې ټوګه د فع کولی شو. په اوس وخت کې موږه بله هېڅ لاره نه لرو. پیل له شبرغانه وشو. هلته چې د دوستم کور او کلی دی ډېز هم ونه شو. طالبان ښه په ډاډه زړه ښارته ننوتل. د دوستم همغه نژدې خپل او خپلوان یې درناوي ته ولاړ وه د گلونو هار په غاړو کې ورته اچول. خو دوستم بیا هم په ښه ډاډه زړه سره دا نارې وهلې چې شمال ولایتونه د طالبانو لپاره یو دام دی.

طالب چې له یوې منظمې برنامې سره راغلي وه ویې شو کولی د شمال ښارونه یو په بل پسې تر خپل کنترول لاندې راولي. یوازې په مزار او کندوز کې یو څه ناخه جګړه وشوه چې تلفات یې یوازې عامو خلک ته واوښته. د خلکو کورونه دوکانونه او سودا گري مارکیټونه په کې لولپه شوه. تر څنګ یې یوه ډله چې هغوی نه اسلام پابند دي نه د ټولنېزو روایاتو او نه کوم قومي تړونونه لرې د دې جګړو وېره او ډار د خپلو نارواو تبلیغاتو په واسطه په عام ولس کې خپاره کړې وه. په عامو خلکو کې یې داسې غلطې اوازې خپرې کړې وي چې طالبان هره سیمه او هر ولایت ونیسي نو اول کار یې دا دی چې په کورونو گرځي د کونډو ښځو او پیغلو پوښتنه کوي بیا خلکو ته وایي چې دا زموږ له خوښې پرته نه شئ ورکولی. دا موږه خپلو جنگیالو ته په نکاح اخلو. دغه ناروا تبلیغات وه چې ځینې د سست ایمان خاوندانو دا منله او له وېرې یې خپل کورونه د لویو ښار په خوا کړه. داسې خلک مې هم ولیدل چې خپل کورونه یې له همدې وېرې د کابل ښار ته بوتله. مگر هلته د کور له اتو تنو سره یې ژوند د سرک په غاړه په یوې داسې خېمه کې وه چې هغه د د مساپرو لپاره د یوې ورځې چکر لپاره وي. او دوی ټوله کورنې په کې

ketabton.com - The Digital Library



ژوند تېروي. هغه دغه بې حیایې منله مګر د واقعیت منلو ته تیار نه وه.

ښارونه یو د بل پسې تسلیمېدل. تر څو چې خبره د کابل ښار ته ورسېده. د یوه پروتوکول له مخې داسې پرېکړه شوې وه چې طالبان به د کابل د ښار په دروازو کې تم کېږي او د ښار ټول امنیت به د کابل امنیتي ځواکونه نیسي ترڅو چې د واک تشه را نه شي او د خلکو شخصي ملکیتونه چور او چپاول ونه شي. تر هغې چې په یوه موقت حکومت موافقه وشي.

د ورځې لخوا د طالبانو ځواکونه د کابل ولسوالیو ته راورسېدل. هغه ولسوالۍ چې د کابل نه یې کمربند جوړ کړی ونیوې. نو په تمه پاتې شوه تر څو د جرګې د کسانو لخوا چې په دوحه سره راټول شوي څه اقدام وشي. دلته په کابل کې د دفاع وزیر بسم الله محمدي او د کورنیو چارو وزیر (میرزا کتوازي) اعلان وکړ چې د کابل ښاریان دې په ډاډه زړه سره په خپلوکورونو کې اوسېږئ موږه ستاسو د امنیت لپاره د کابل په ښار کې پراته یو. دا اعلان په تلویزونونو کې ماښام مهال د دوی په مبارکو خولو خپور شو مګر کله چې ماسختن مهال کېده نو بیا نه امنیتي چارواکي وه نه یې په اوږو د صلیبیانو په لاس ځوړند شوي مډالونه وه نه یې پوځونه وه او نه دوی. هرڅه تړي تم وه. د کابل ښارکې د واک تشه راغله. غلو او داړه مارانو په ځانګړي ډول د شمال د ټلوالې لنډغرو لستوڼي بډ وهل د خلکو د کورونو او سوداګریزو مارکېټونو په چور تالان یې پیل وکړ.

تر څو د کابل د ځینو حوزو سپین ږیري او مشران په عاجله توګه سره جرګه شوه طالبانو ته ورغله ترڅو راشي او دا تشه ډکه کړي له دې سره د کابل اوسېدونکي له چور او چپاول څخه وژغورل شي.

ketabton.com - The Digital Library



طالبان چې د مشرانو د امر په منلو کې تر هر ګونده زياد منونکي دې دې ته په تمه شوه چې ترڅو يې مشران څه پرېکړه کوي. پرېکړه همداسې وه چې ټاکل شوي کسان دې خپلو حوزو ته ورشي او واک دی په لاس کې ونيسي او د امنيت په نيولو کې دې ډېر پام وکړي. د زمري (اسد) په ۲۴نېټه ماښام مهال طالبان ښار ته ننوتل د حوزو امنيت يې په خپل لاس واخيسته. په ښار کې يې پهرې او ګزمې زياتې کړې. د غلو او چپاولګرو مخه يې ونيوه. ښار په بشپړه توګه د طالبانو لاس ته پرېوت. د امنيتي او د فاعي څواکونو مشرانو له ښار نه پښې سپکې کړې.

هر مشر ځان ته د حامد کرزي په هوايي ډګر کې الوتکې له مخکې نه درولې وې. لوړ پوړو چارواکو نظامي الوتکې په نښه کړې وې. نورو چارواکو بيا په کرايه نيولې وې. کله چې هغوی د طالبانو واورېده بيا نه وطندوستي وه نه مسؤليت وه او نه دندو ته وفاداره پاتې کېدل. مشرانو دوه خپلې کړې او دوه پردی بهرنيو هېوادونو ته يې ځانونه ورسول. مګر يوازې غريب ولس وه چې دې غمو ته پاتې وه. د شپې يوولس بجې وې چې امرالله صالح د خپل د ټويټرپه پاڼه وليکل چې اشرف غني له هېواده بهر وتښتېده او د اساسي قانون له مخې په اوس وخت کې زه د افغانستان رسمي رئيس جمهور يم.

د اشرف غني د تښتېدې اصلي پېښه لا مالومه نه ده مګر په دې هکله مختلف نظريات دي.

څوک وايي اشرف غني په خپله وتښتېده!

څوک وايي چې په زوره وتښتول شو!

څوک وايي تښتولو ته اړ کړی شو!

ketabton.com - The Digital Library



داسې مختلفي تبصري شته. مګر اصل واقعیت لا تر اوسه هېڅ څرګند نه دی. خپله اشرف غني وايي:

ما چې کله د ارګ حالت ولیده او څه نا اشنا څېرې مې په ارګ کې ولیدې نو ووېرېدم زما د امنیتي ګارد مشر ماته راپور راکړ ارګ د نا مالوم خلکو په ګیره کې دی. راته یې وویل چې حالت ډېر بحراني دی وخت د خطر دی. په دا وخت کې پکار دی چې ځانونه وباسو.

ځینې کړې بیا داسې تبصرې کوې چې د همدې ورځې په مازدیګر څو لوکس تور رنګه موټر ارګ ته راغله هلته د بندو ورونو ترشا څو ساعته له اشرف غني سره وغړېده. کله چې دا موټر له ارګ وواته اشرف غني بیا چا ونه لیده. چې د دې موټرو راتګ تر اوسه یوه معما پاتې. بله ډله دا وايي چې اشرف غني خپله امریکایانو په زوره له ارګ ووېسته ورته یې وویل:

په مخه دې ښه چې کوم هېواد ته غواړې تلی شې. همغه هېواد به تاته هرڅه برابروي.

بیا یوه ډله داسې وايي هغه بېلتون غوښتونکې چې د خپلې موخې ته ونه رسېده خپلو مؤظفو کسانو ته یې دنده وسپارله چې اشرف غني له مېنځه ویوسي. هغوی له د ننه ارګ نه لاس په کار شوه. یوه قوي ډله یې جوړه کړه ترڅو د غني د مرګ لپاره لاره چاره ولټوي. هغوی چې کله په لټون پیل وکړ غني له دې پېښې خبر شو دا چې د غني سره اکثره کارکونکي وه نو دې ته اړشو مخکې له هغې چې په دام کې ولوېږي خپله مخه وکړي.

د غني تلل یا د ځینو په اصطلاح تېښته که هر څه وه خو د افغانستان لپاره ښه خبر نه وه. د ده په تګ سره په کابل کې تشه مینځ ته راغله که

ketabton.com - The Digital Library



چېرې طالبان په وخت لاس په کار شوې نه وی نو کېدای شوی داسې پېښې به مینځ ته راغلې وې چې مخکې تولې دورې په ځانګړې ډول د مجاهدینو د بریالیتوب د وخت کیسې به یې شرمولې وي. که چېرې اشرف غني لږ له سوچ نه کار اخیستی وی او د جمهوریت په بقا یې ټینګار نه وی کړی نو د حکومت د پاشل کېدو مخه به نیول شوي وه.

په دغه وخت کې اشرف غني ته پکار وه چې د هېواد ګټې یې تر ځان او تر جمهوریت لوړې ګڼلې وای. په دې هم پوهېدل پکار دی چې ده سره په څنګ کې داسې انسانان وه چې هغوی ته اسلام، هېواد، او افغانان هېڅ اهمیت نه درلوده. هغوي چې په څه فکر کاوه د هغوی خپلې کورنی ګټې وي. یوازې ورته خپل زامن خپله ښځه او خپل ځان اهمیت درلوده. هغوی دا دېرش کاله مبارزه یوازې یوازې د دې لپاره کوله چې په واک پاتې شي. دوی ته دې خبرې اهمیت نه درلوده چې د هېواد په خلکو څه تېرېږي. که به دوی په واک کې وه بیا نه اسلام ته خطره وه نه هېواد ته خطره او نه هېواد والو ته.

کله به چې دوی له واک لرې شوه بیا به په خپلو احمقان وګرځېدل چې اسلام ته خطره ده. دین ته خطره ده هېواد خو سل په سله تر جدي ګواښ لاندې دی. بیا یې هره خوا اندوخر جوړ کړی وه. په دغه وخت کې د غني لپاره یو اقدام ته اړتیا وه چې یو تاریخي نوم ورته پاتې وي. که دی له طالبانو سره په دې هکله غږېدلی وی چې څه به زه در نژدې شم او څه تاسو بیا به هېڅ کومه ستونزه نه وه. داسې هم کېدای شوه چې نه جمهوریت او نه امارت یوازې د افغانستان اسلامي دولت باندې بسنه شوې وي نو کېدای شوی چې د حکومت له پاشل کېدو به یې مخه نیول شوی.

دا به تاریخ کې د اشرف غني لپاره د یو تل پاتې انسان په توګه په نړۍ کې ژوندی نوم وه.

امریکې د دې شلو کلونو په موده کې افغانان داسې روزلي وه چې د دوی مرسته نه وي نو ټول ملک به له لوږی مړه شي. ورو رو یې خلک له اسلام او اسلامي عقیدې په شا کول. هغه ډلې ټپلې یې قوي کولې چې په هغوی کې د اسلام هېڅ نښه نه وه. امریکې دلته دومره زیاد کار کړی وه چې په وتلو سره یې ډېرو افغانانو خپل ځان دلته نه لیده. هغوی ته اسلام اصلاً اهمیت نه درلوده. ومو لیدل ځینې بې عقیدې خلکو داسې ګمان کاوه چې امریکه ووځي نو موږه به له لوږې مړه شو. همغه وه چې ځانونه یې د الوتکو د وزرو او باډېو پورې ونښول ترڅو چې له هوا نه راولوېدل. د هغوی ټوټې هم راټولې نه شوې. په یوه ولس کې چې د داسې نظر یې غلامان وي هغه ولس به په کومه لاره خپلواکي تر لاس کړي؟

پرته له دې چې د تل لپاره غلام پاتې وی!

د غلامو ذهنیتونو خاوندان تل د بادار د سپیو په شان وي. چې د بادار له خوراکه پرته د یوې اونۍ لپاره هم نه شي ژوندې پاتې کېدلی.

امریکې او د هغه اصلي غلامانو په دا دوه لسېزو کې د افغانانو ترمنځ داسې ذهنیتونه په خلکو کې پیدا کړي چې د دنیا ټول خوزښت د امریکې په لاس دی. هغوی داسې فکر کاوه چې د امریکې له وتلو سره به ټول افغانستان کې کورنۍ جګړې پیل شي.

مګر نه خو خلک له لوږې مړه شوه او نه کورنۍ جګړې ونښتې.

اشرف غني چې د افغانستان له ټولنې نه ښه خبر نه وه د امریکانو سره

ketabton.com - The Digital Library



راغی د امریکې په زور واک ته ورسېده او د امریکې په شتون دی هم دلته وه هغسې ناخبره بېرته لاړه. هغه او کرزي دواړو تر پایه پورې دا خپل ولس ونه پېژانده .که هغوی دواړو خپل ولس په ښه توګه پېژندلی وی نو دومره به نه سپک کېدل.

دا چې هغوی له خپل هېواده بهر هم زده کړې کړې او هم یې ژوند تېر کړی نو د خپل له ټولنې نه ناخبره وه او نه یې پېژانده. هغوی په هره مسئله کې د بهرنیانو په عینکو کې خپل ولس ته کتلې. د بېلګې په توګه کرزی دومره د پردو د اغېزې لاندې راغلی وه کله به چې هغوی څه ورته وویل ده به هغه لکه رېښتیا داسې منله. ځکه خو یې له خپل ولس نه واټن نیولی وه. هېڅکله یې د یو ځل لپاره هم د خپل د ولس لمنې ته ځان ونه غورزاوه.

ځکه هم خوار شوه او هم ذلیل.

که دوی خپل ولس په ښه توګه سره پېژندلی وه او د هغوی له مشرانو سره یې جرګې مرکې کولې نو هېڅکله به خوار او ذلیل کېده نه.

که دوی په رېښتیا سره خپل ولس په معنو کې پېژندلی وای او له هغوی نه یې په ښه توګه د حق او حقیقت په لاره کار اخیستی وی او په دوی یې باور کړی وی د وی به هېڅکله داسې نه خوارېده.

دا مشران چې په غوړونو کې یې د یهودو د دالرو شرقهار وه په همغه مینه مست وه نو خپل ولس ته یې هېڅ پام نه وه. د دې برسېره یې له ولس سره داسې چلند کاوه لکه بادار او مزدور. دغه مشران چې د پرېوتو کورنیو څخه راولاړ شوي وه دا موټر دا بنګلی دا درې او څلور ښایسته ښځې په خواکې یې یوه دوه ښکلي هلکان نو له دوی نه یې عقل منطق او دلیل ټول له

ketabton.com - The Digital Library



مینځه ویوړه دوی یوازې ځان او خپلې کورنۍ ته یې پام وه. ولس ترې پاتې شوه. د دوی او د ولس ترمینځ واټن راپیدا شو. د خلکو نفرت له دې فرعوني صفته انسانانو څخه زیات شو. ورو رو د دوی او ولس دښمني را ولاړېده. له دې کارسره د مخالفینو صفونه ورځ تربلې قوي کېدل. چې د شل کاله مبارزې په ترس کې یې طالب ځواکونو وشوه کولی د دوی فاسد او په پردو پورې تړلی حکومت او زمامداران له مینځه یوسي. چې ورسره د حکومت ټول اراکین ایله په تېښته بریالی شوه. د ټولو حکومتونو د زوال لامل له ولس سره بې پروایي او دښمني کول دی.

که یو حکومت په ولس کې ریښې ولري او ولس ترې خوښ وي نو د هغه حکومت راپرزول ډېر سخت کار دی.

د بېلګې په توګه کله چې په ترکیه کې د اردوغان په حکومت کودتا وکړه. اردوغان د خپل د ټویټ په مخ کې خلکو ته ولیکل چې د پردو د مزدورانو مخنیوي وکړئ. په دغه وخت کې یوه غږ سره ټول ولس راووت په هره خوایې د اړې کړې کوونکو باندې یرغلونه پیل کړه په هره خوایې کودتاچیان داسې وځپل چې بیا به په ترکیه کې سر هم راپورته نکړي.

ولس ځکه دا کار وکړ چې حکومت په هغوی کې داسې ریښې زغلولې وې چې له ځان څخه تېر وه مګر د حکومت په ړنګېدو خوښ نه وه .که د ډیموکراسۍ د حکومت مشرانو خپل فرعوني خویونو څخه تېر وی نو اوس به موږه له بدبختیو سره نه مخ کیدو.دا دی د شل کاله حکومت سره اوس په ملک کې هم نه شي اوسېدی.

اشرف غني په تېښته بریالی شو.

ketabton.com - The Digital Library



امرالله صالح د دفاع وزیر بسم الله خان محمدي د کورنیو چارو وزیر دوی ټول ایله په تېښته بریالي شول.

له بهر نه لکۍ خوزوي چې حکومت اوس هم زموږ په لاس ده. او باداران یې دا غبرګه وي چې دوی اوس هم واکمن دي. نه پوهېږم چې دوی څومره د واک شوقیان دي. که دوی په رېښتیا سره هم په واک مین وه نو پوره شل کاله دوی ښه په زور کې حکومتداري وکړه. مګر په دا شلو کلونو کې دوی د ځان لپاره داسې کار ونکر چې په ولس کې پټ شي. او ولس یې تر شا ودرېږي. اوس چې د طالبانو حکومت شو وبه ګورو چې دوی څنګه حکومت کوي.

آیا د وی به هم د تېر حکومت د واکمنو په شان هغسې واکمني وکړي ؟!

ایا دوی به هم د موټرو او بنګلو مینان شي؟!

آیا دوی به د ښکلو ښځو خوندونه پسې واخلي؟

ایا دوی به د پیسو شوق او د دالرو مینه مست کړي؟

او که.....!!

او که دوی به خپل نفسونه شاته واچوي. ولس به مخه کړه.

که دوی د چا پورې ونه تړل شوه او نه وي تړل شوي او د ولس سره ښه چال چلند وکړي له ولس نه خپل غلامان جوړ نکړي. د غمزپلي ولس ته خدمت وکړي. د دوی په ټېوټو پښې کېږدي. ولس ته کار پیدا کړ. دا ولس یې ونازاوه. د ولس غمونه یې په خپلو خدمتونه سره هېر کړه.دا کړېدلی ولس یې خوښ کړ. داسې یو اسلامي نظام جوړ کړي چې د هر وګړي حقوق په کې خوندي وې. له ګاونډیانو سره د ګاونډیتوب په ټولو اصولو پابندوي.

ketabton.com - The Digital Library



په دننه هېواد کې هر وګړي ته د هغه د صلاحيتونو سره سم کار برابر کړي. په حکومتدارۍ کې داسې خلک په کار وګماري چې اهل يې وي. يانې کار اهل کار ته.داسې نه چې داکتر معارف ته راولي.انجنيرد روغتيا وزارت ته.بېسواده د لوړو زده کړو وزارت ته. په همدې توګه دا هره څوکۍ سره ووېشي. بيا د کارونه ټول د پېژندګلوي په اصولو روان وي. حق به حقدار ته نه سپارل کېږي.کارونه به په واسطه او رشوت پر مخ ځي. چې له دې سره به د ولس هيلې په ناهيليو بدلې شي. بيا د تېر حکومت کيسه تکرار شي.

واو زور وا بيا واو زور وا!

پای

کابل، شکردره حسين کوټ بازار د ناصري کتابتون

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*